Kandahar. Kabul
Vol.3, No.2, Sawr 1341
(April 1962)

# کندهار

دزړه ستنی مو کېږي دی ستا په لوری
امیدونه مو تړلی په تا پوری

# همایونی معظم اعلیحضرت
# په کندهار کی

پنجشنبې دحمل په ۳۰ نېټهٔ معظم همایونی اعلیحضرت د کندهار، گرشك، فراه، هرات، میمنې شبرغان او مزار شریف دانکشافی او عمرانی چارو دلیدو دپاره د کابل څخه حرکت راوفرمایه.

ښاغلی صدراعظم، د کابینې غړی، لوی درستیز، د سلطنتی درنې کورنۍ ځینی غړی او عسکری منصبداران د کابل په هوائی ډگر کی دخدای په امانی دپاره حاضر سوی وه همایونی معظم اعلیحضرت دعسکری قطعې داحترام ترمنلو او دحاضرینو سره دخدای په امانی وروسته په ۹ بجې او ۱۵ دقیقې په سلطنتی مخصوصه الوتکه کی د کندهار پرخوا حرکت وفرمایه.

دهمایونی ذات الوتکه پر ۱۱ بجې او ۵۰ دقیقې د کندهار په هوائی ډگر کی راکښته سوه.

د کندهار دنائب الحکومه کفیل او دعسکری قواؤ قوماندان ډگرجنرال خان محمد، لښکری لویو منصبدارانو، ددائرو او مؤسسو رئیسانو؛ د معارف زده کونکو، دښار او اطرافو مخورو دالوتکو په ډگر کی دخپل گران تو الواك هر کلی وکړ، دهمایونی معظم اعلیحضرت هر کلی په عسکری احتراماتو او دتوپو په ډزو سره وسو دوړو کوماشومانو ډلی دوگړو په نماینده گی سره دملوکانه ذات په حضور د گلو گېډۍ وړاندی کړی او د شهزباری حضور څخه دلطف او مهربانۍ مورد وگرزېدل.

ښاغلی لعل محمد کاکړ په مفصله وینا دوگړو داحساساتو او دسلطنت مقام ته ددوی دخلوصیت په باره کی او د وروستنیو پرمختگو څخه چی په کندهار کی سوی دی دشکران او ښه راغلې عرض د شاهانه حضور ته وړاندی کړ همایونی اعلیحضرت هم دهیواد د نیکمرغی او د ملت دآرامۍ دپاره خپلی ښې هیلی او آروزگانې څرگندی کړلې.

همایونی ذات دخلگو د کتارو په مخ کی ترتېرېدلو او د هر یوه سره د شاهانه لطف او مهربانۍ تر اظهارولو وروسته دښار پرخوا حرکت وفرمایه.

پرلار باندی دالوتکو دپخوانی ډگر څخه دشاهانه ذات تراستو گنځی پوری په زرو، زرو خلگ دسړك پر دواړو غاړو کتار، کتار ولاړوه او د «عمردی ډېرسه زموږ گران او محبوب تولواکه» په نارو او د گلابو دپاڼو او گېډیو په نثارولو او تقدیمولو سره ئې دخپل گران او محبوب تولواك هر کلی کاوه. دنرو او ښځو دلیسو زده کونکو دلاری په هره برخه کی دزړه له کومی هر کلی وایه او د خوښۍ احساسات به ئې ښکاره کول.

د همایونی اعلیحضرت موټر دلاری تروهلو او د هر کلی دمجللو دروازو څخه تر تېرېدلو وروسته پر دؤلس نیمی بجې د کندهار د دارالحکومه گۍ دماڼۍ په مخ کی ودرېدی. «نور په ۳۲ مخ کی»

LIBRARY OF CONGRESS
ISLAMABAD OFFICE
29 MAR 2005
6 CONTINUATION 6

# کندهار

میاشتنی خپرونه

ادبی . تاریخی . اجتماعی . علمی

مسئول چلوونکی:

## ا،م «کرزی»

اداره: د شهیدانو واټ

د دولتی مطبعې څنګ ته

د ۱۳۴۱لمریز کال د [ثور] میاشت
د ۱۳۸۱قمری کال د [ذیحجه] «
د ۱۹۶۲میلادی کال د [ می ] «
د دریم کال دوهمه ګڼه
پرله‌پسې ګڼه [۳۶]

کالنی «بیه»

په کندهار کښې [۲۸] افغانۍ
په‌دننه مملکت کښې [۳۲] «
په دباندنیو هیوادو کې یوډالر

## ددې ګڼې مضامین


| | |
|---|---|
| تولواک | په [۱] مخ کی |
| مهرشاه | « [۳] « « |
| د علم النفس بېژندنه | « [٤] « « |
| فکر او یو عمل یو د بل متمم دی | « [۷] « « |
| د لوبانو وینا وی | « [۸] « « |
| ګالیله او د هغه لنډه بېژندنه | « [۹] « « |
| د مادی اصالت او د معنی اصالت | « [۱۱] « « |
| [ لوبه ګټه ] | « [۱۵] « « |
| [ د بېغور حسرت ] | « [۱۷] « « |
| [ د خپل وطن د ښت ؤغر ] | « [۱۹] « « |
| د بشری فکر لومړی آثار | « [۲۰] « « |
| سوالګره نجلۍ | « [۲۲] « « |
| د ښاغلی مولانا «حبیبی» بېژندنه | « [۲۳] « « |
| څنګه ژوند؟ | « [۲٦] « « |
| د کندهار د روزګان د شالی درې کتیبه | « [۲۷] « « |
| د د مراسی غونډۍ | « [۲۹] « « |

همایونی معظم اعلیحضرت د کندهار په هوائی ډګر کی
د تشریفاتی ګارد سلام منی

# ټولواک

دزرګونو کلو راهیسې په افغانی جامعهٔ کې ټولواک د ملي وحدت سمبول او د ولس د ټولو طبقو د هیلو مرکز دی او د شاه دوستۍ مېنه او عشق موږ ته له پلرو او نیکه ګانو څخه راپاته یو قیمتي میراث دی.

کله چې موږ د ټولواک نوم پرژبه راوړو نو په زړونو کې مو د محبت ډک احساسات په څپو راځي او روح موله یو د نیا خوندونو څخه سرشاره کېږي ځکه دا زموږ لرغونی عنعنه ده چې ټولواک ته به پاډېره درناوی د اخلاص سرونه کېږوو او د دوی د امر د اجراء په لار کې به وهر ډول ایثار او قربانۍ ته چمتوولاړ یو.

کله چې موږ د خپل ستر افتخاره څخه ډک تاریخ ته نظر اچوو نو کومې ستري کارنامې چې د سیاست او عمران په برخه کې زموږ د ملت په نصیب سوي دي هغه د ټولواک د عالي فکر، پاخه تدبیر او نه ستړي کېدونکي زحمتونو نتیجه ده.

که موږ خپل تېر ژوند تر مطالعې لاندې ونیسو او د هغه ژوند سیاسي، اجتماعي، اقتصادي او نوري انکشافي چاري سره وڅېړونو به دا په ګډه او کامل اتفاق سره په یقیني ډول ووایو چې د اعلیحضرت المتوکل علی الله محمد ظاهر شاه د سلطنت ځلانده او روښانه عصر زموږ په تاریخ کې یوه بې ساري د لوړتیا او امنیت زمانه ده د دې منور او خواخوږي ټولواک د سلطنت په فرخنده عصر کې د افغاني جامعې د مادي او معنوي ژوند د اعتلا او پرمختګ د پاره داسې کارونه شوي دي چې نور عصرونه ئې ساري په یاد نه لري.

په دې کې شک نسته چې د استعمار دوه سوه کلن سیاسي تاریخ کوم چې د ختیځ هر ملت له هغه څخه متأثر شو ګران افغانستان ته ئې هم فرصت ورنکړ چې د ژوند خپلې نیمګړ تیاوې پوره کړي او د ولس د مترقي آرزوګانو پوراینه وکړي نو ځکه افغاني جامعه د تمدن له کاروان څخه څه وروسته پاتې شوه او د زمانې نوي فکر څه وځنډېدي خو بیا هم دا زموږ د تېر تاریخ ستر شهامت دی چې خپل وطن او خاوره ئې د بردیو له تاړاکه په ډېره مېړانه خوندي کړه او د خپل هیواد ملي نوامیس ئې وساتل که څه هم د ډېرو ولسونو څخه استعماري سېلاب د ژوند ټولې چاري په چپاو یووړي او څه ئې ورپرې نښوول.

څرنګه چې زمانه د ترقۍ او تکامل پرخوا روانه ده همدغه شان د ملتونو په ژوند کې هم تحول او د یوه حالت څخه و بل حالت ته اوښتل د اجتماعي طبیعت یو نه ماتېدونکي دود دي.

خو ملتونه د ولسي ژوند په داسې وختونو کې د خپلو لارښوونکو و پاخه فکر، کلکې ارادې او خواخوږي ته سخته اړتیا لري.

نو افغاني جامعه نېکمرغه ده چې د خپل تحول په عصر کې د یوه داسې مدبر، زړسواندي

او پر ملت مین پاچا ترسیوری لاندی په ډېر متانت او مال اندیشۍ دخپلو دینی او ملی شعایرو سره سم دعصر ایجاباتو ته لبیک وائی او دخپلو نیمګړتیاؤ دپوره کولو دپاره ګړندی ګامونه اخلي . نن چی موږ د خپلی جامعې ټولی طبقې وینو نو هغو دزړه په اخلاص او صدق وصفا سره دخپل محبوب پاچا و ارشاداتو او لارښوونو ته د فکر او زړه ورونه پرانستلی دی او د هغه حکیمانه ذات وصیتونه ئې دژوند په ټولو برخو کی منلي دی ځکه زموږ دملت ټول افراد په دې حقیقت پوره پوهیږی چی د همایونی اعلیحضرت په مبارك عصر کی زموږ دژوند په هره برخه کی راز، راز تحولونه راغلی دی . او دژوند سویه مو نسبت وپخوا ته له هره بابه پرمخ تللې ده .

نن دهیواد په ټولو سیمو کی د معارف وړانګی خپرې سوې او په هر وړو کی کلی کی ښوونځی پرانستل سوی دی افغانی هلوکان اونجونی په ډېره اسانه شرایطو سره پخپلو زده کړو لګیادی، په ښارونو کی لیسې او په مرکز کی د عالی تعلیماتو دپاره بې شمېره پوهنځی جوړ سوی دی چی کال په کال په زرو تعلیمیافته ګان له هغو څخه دوطن دخدمت دپاره راوزی .

څرنګه چی افغانستان دخپل طبیعی او جغرافیائی وضعیت له مخی یو زراعتی مملکت دی نو ځکه د هغه و کرهنی ته په عصری توګه ډېره پاملرنه وسوه او نن د افغانستان په ټولو ولایتونو کی یا ستر داو بو بندونه جوړ سوی دی او یا دجوړېدو په حال کی دی په تېره بیا په کندهار او دهلمند په اوه کی خو دزراعت په برخه کی داسی لوئی پروژې وسرته ورسېدی چی زموږ ټول بزګران او زمین داران ئې آرام اوداده کړل .

دغه رنګه د افغانستان لویو لارو او د سړکانو جوړولو ته پاملرنه وسوه نژدې دی هغه وخت چی دهرات او کندهار سړك دی تیار سی او د کندهار او کابل ترمنځ لویه لار دی په اتو ګړیو کی ووهل سی، د الوتکو دپاره میدانونه جوړ سول او نن د افغانستان څخه دنړۍ وهرهیواد ته دالوتکی په وسیله سره تګ او راتګ کېدای سی .

په دغه شان دخلګو و روغتیا ته توجه وسوه ډېر ساری مرضونه د کلکی مجادلې له اثره له منځه ولاړل او نن زموږ ولس دصحت دلوی نعمت څخه برخه من دی لېکن تردې ټولو لوی بریالیتوب چی د همایونی اعلیحضرت دسلطنت په ځلانده عصر کی دافغانی جامعې په برخه سوی دی هغه دافغانستان خارجه سیاست دی چی دټولو نظامی بلاکو د شمولیت څخه ساتل سوی او د یوه بېطرف سیاست او آزاد قضاوت پیروی کوی چی داپالیسی نه یوازی زموږ د ملی مصالحو ضمانت کوی بلکه د نړۍ د سولی او بین المللی امنیت په لار کی هم ستر خدمت بلل کېږی .

بل غټ ګام چی زموږ دګران ټولواك په عصر کی د قومی وحدت په لوری اخستل سوی دی هغه د پښتونستان د خلګو د آزادۍ مسئله ده دا موضوع څرنګه چی دافغانستان دپاره دژوند او مرګ مسئله ده نو ځکه افغان ملت دخپل ټولواك څخه دزړه له کومی ممنون *



همایونی معظم اعلیحضرت د احترام کارد د کندهار پلهرائی دکر
کی معاینه کوی

ښاغلی ع،ا «فرحتی»

# مهر شاه

خیال روی تو، گر بگذرد به گلشن چشم
دل از پی نظر آید بسوی روزن چشم
بیا که لعل و گهر در نثار مقدم تو
ز گنج خانهٔ دل می کشم به مخزن چشم

«حافظ»

از مفاخر باستانی و شعائر قدسی ملت افغان، که از گذشت زمان غبار تیره گی بخود نه گرفته و دست حوادث روزگار پردهٔ پندار زشت بر آن کشیده نتوانسته است یکی مهر شاه و دیگر حب وطن است. اگر ما آزادی خود را دوست داریم و هر گاه به آبادی میهن مان میکوشیم باری غیر دوستی و علاقه شاه قوتی وجز آب و هوائی وطن قوتی نداریم. در خانه بزرگ میهن، شاه را رأس الرؤس دانسته وما فرزندان کوچك و بزرگ، برای نشو نما، کسب انرژی وحصول قدرت، بسط و توسعه ساحه حیات خود به دامان عطوفت وظل شفقت او پناه میبریم از لطف او استمداد جسته به نوازشش شاد میگردیم مام وطن اگر بما درس وفا و محبت، صداقت و خدمت می آموزد اما پدری بزرگ مثل شاه مارا به دانائی و توانائی آزادی و راد مردی ترقی و تعالی میرساند. امروز که شاه از آسمان عظمت وجلالت به زمین اینولا نزول اجلال میفرماید مصداق یحی العظام رمیم از وجودش ظاهر و ما مردم این سامان با بضاعت مزجات اما قلوب آگنده از مهر وی میگوییم که:

گر زراه سفر آن سرو روان باز آید
به تن مرده دلان نقد روان باز آید

اگر ما به پیشگاه مبارك شاه ترقیخواه خود صمیمانه و بی شائبه عرض خیر مقدم میگوئیم باری نه مبالغه گوئی خواهد بود، و نه گزاف سرائی، زیرا حرمت مقام شاه و محبت وطن

---

*دی چی د دوی د مظلومو ورونو د آزادۍ او بشری حقوقو حمایت ئې کړی دی. لنډه ئې دا چی زموږ ټولی اجتماعی نېکمرغۍ او د ژوند په ټولو برخو کی ترقۍ او انکشافونه د شاهانه ذات د نه ستړی کېدونکی زحمتونو محصول دی.

نو اوس چی معظم همایونی اعلیحضرت کندهار ته تشریف راوړی او کندهاریانو ته ئې د خپل دیدار افتخار بخښلی دی دا به زموږ ټولو سره یوه نه هېرېدونکی خاطره وی د خدایه غواړو چی زموږ د محبوب شهریار ورځی شپې په کندهار کی په خوښۍ او سلامتۍ سره تیری سی او هم آرزو لرو چی د افغانستان ملت د دوی د سلطنت په بختوره دوره کی د ترقۍ او زیاتو مدنی پرمختگونو مدارج طی کړی. ا،م «کرزی»

# د علم النفس پېژندنه

[۳]

ددې طریقې بیان په تفصیل سره دادی :-

۱- داچې دانسان خپل عقلی اعمال تر مراقبت لاندې وي او د دوی ونقلبانو ته ئې ورپام وي او ددوی حرکات، سکنات او حالات په مختلفو وختو او ځایو کې ګوري .

۲- بل داچې ددغو عقلی حالاتو تاثیر ئې په خپلو هغو اعمالو کې چې له ده څخه صادر یږي تر ملاحظې لاندې وي مثلاً خپلو خاطرو ته ئې ورپام وي او ددوی تحلیل او تعلیل ئې په نظر کې وي او څه خو بونه چې وینې هغه ورپه یاد وي او دغو شیانو په څېړنه او پلټنه بوخت وي همدا ډول په دې پسې سرګرزوي چې د خپلو خاصو نفسي امیالو څرك او سر وپېژني که ئې ځینې میلونه قوي وي دهغو دقوت سبب معلوموي که ئې ځینې ضعیف وي دهغو دضعف سبب او له ځانه څخه دا پوښتي چې ولې یوه کار ته په ډېره خوشالي او هوس سره اقدام کوم خو په داسې حال کې چه له بله کاره څخه مې بیا بد راځي او ولې چې دیو چا سره مخامخ شم ښه مې ځنې راځي او له بل یوه څخه مې بیا ښه نه راځي او ولې مې یوشي په یاد کې پاتیږي او نور مې هیریږي او ولې چې ګاهې وخت غواړم چې یو څه دې ووایم نو حافظه هغه نه را په یاد وي او یا غواړم چې یو څه دې ووایم خو بله خبره مې تر خوله ووزي له دې قسمه

---

از سنن قدیمی و عنعنات ملی افغان‌ها بوده وجود شان را سمبول شرافت و افتخار ملی نگهبان توانای حریت وحراست خاك خود می شناسیم از جانبی این شاه راز یاد عزیز و گرامی میداریم از اینکه: عهد همایون سلطنتش هر روز به دفتر افتخارات بزرگ کشور ما برگی از جدار افزوده، رهنمائی های پر ارزش شاه توام با افکار خردمندانه بزرگان مملکت، من جمیع الجهة کشور ما را به ترقیات عدیده شگرف نائل ساخته از پرتو توجهات عالیه ذات همایونی اش تاریکترین زوایای زندگی فردی و اجتماعی ما به نور علم ومعرفت آبادی وعمران، رفاه وارامش و نهضت‌های نوین مدنی و اجتماعی روشن گردیده است اکنون مفتخریم که در دنیای وسیع و باعظمت کنونی وطن عزیز وبس عزیز ما افغانستان به سهم زرگواری خود رسیده ودر مجامع بین المللی از حقوق مادی و معنوی خود کاملاً بهره‌مند است مانه تنها امروز بلکه همیشه باید به شکران نعم موجوده؛ با امعان نظر به عقب مانده گی های گذشته روزها را عید دانسته وشب‌ها جشن برپا داشته، بامسرت و خوشی، طول عمر شاه جوان بقای دولت سردار بزرگ و قائد ملی، سعادت و کامیابی ملت رشید افغان را از خدا به دعا خواهیم .

د همایونی معظم اعلیحضرت د تشریف راوړلو پهٔ وخت کی د کندهار په هوائی ډګر کی د ورو کو له خوا د ګلو ګډی شاهانه حضور ته وړاندی کیږی او د شهریاری ذات له خوا د لطف او مهربانی مورد ګرځی.

په زرو مختلف عقلي اعمال چې یوانسان ئې په مختلفو ظروفو کې په خپل ځان کې ملاحظه کوي .

نوموړی طریقه چې ده په علم النفس کې یوه ډېره پخوانۍ طریقه ده چې پخوانو خلکو اعتماد پر درلودی او نوی پوهان ئې هم پالي مګر پر خلاف دې لکه څرنه چې اهمیت ور کړه سوی دی او یا شائع سوېده خو عیبونه او نواقص لري چې و ثابتو حقائقو ته درسېدو په لار کې یوازی دغه طریقه کافي نه ده چې اعتماد دی بـاندی وسی ځکه :-

۱- چورتونه او فکرونه ژر ژر سره اوړی او د ذهن ومخ ته چابك، چابك تېرېږی تګ و راتګ ئې هر ګوره سرعت لري نو په دغسی حالت کې د دوی ملاحظه ډېر سخت کار دی .

۲- که موږ و خپلو عقلي اعمالو ته تـر پېښېدو ورو سته نظر راوګرزوو خو موږ دا نـو کولای چې هغه اعمال دی په هغه لومړنی ډول سره راستون کړو بلکه هر ومرو ګډوډی او کمی پکښې راځی او یا به نو مبالغه پکښې کوو ( خو مقصد داچې هر عمل د خپلو پېښېدو په شکل تر ملاحظې لاندی نه سورا وستلای ) مترجم

۳- که موږ د ملاحظې دپاره یوه عقلي حادثه کافي زمانه دوام داره فرض کړو او غواړو چې تر ملاحظې لاندی ونیسو نو په دې وخت کې خو زموږ عقلي طاقت و دوو برخو ته وېشل کېږی .

۱- یوه ئې هغه برخه ده چې ملاحظه کوو ئې بله هغه برخه ده چې تر ملاحظې لاندی ده نو له دې کاره سره دهری برخی کمزوری او اضطراب تړلی دی ځکه تاسی وینی چې کوم وخت وغواړی چې په دې و پوهېږی چې څنګه لیکنه کوی او یا څنګه تګ کوی او یا څنګه خطبه وایاست په داسی حال کې چې دغه اعمال مو هم جریان لري نو تاسی به ووینی چې په اعصابو کې مو اضطراب پېښېږی لیکنه مو ګډه وډه کېږی او په تګ کې مو پښې جاروزی او د خطبې په دین کې درېږی او همدا ډول چې غواړی د خوشالی په مزه او د خوابدۍ په وخت کې د ځان ملاحظه شروع کړی نو د دغی ملاحظې سره مـو د خوشالی مزه او د خوابدی تلخګی کمبوت کوی .

٤- که موږ دا فرض کړو چې دو نه قدرت درسره سته چې یو تېر سوی ذهني عمل بیرته پخپل اصلي شکل راګرزولای او دا درته اسانه ده چې خپل تېر سوی عقلي اعمال دی تر دقیقی ملاحظې لاندی راولی خو دا خبره درته ګرانه ده چې یوه حادثه دی پـه خپلو خبرو کې هغه شان تعبیر کړی چې د هغی واقعي حقیقت دی تصویر کړی ځکه غالبه خـو داده چې په بیانولو کې ئې زیاتوب او یا کمی در څخه کېږی او یا هغه څه چې ته ئې بیانوی په داسی الفاظو او عباراتو به وی چې اروېدونکی ته به ئې پوهېده مشکل وی او د هغه و ذهن ته ښائی هغسی معانی وروسپاری چې ستا مقصد نه وی ځکه الفاظ او عبارات ډېر وخت سړی تېر باسی او خلاف مـراد معانی ور کوی او دا هم ور سره سته چې ته دی له خپلو عواطفو او میولو څخه متأثر ئې او د حادثې بیان دی کوی نو له دې څخه څرګنده سوه چې هغه څه نسی بیا نـولای لـکه څنګه چې پېښېږی .

٥. که موږ د [جدل] په ډول دا در سره ومنو چې لویان خلک چې دی خپل عقلي حوادث په دقیق ډول سره بیانولای سي نو دا کورټ نه سو منلای چې کوچنیان هم دغسي شان کولای سي ځکه د دوی عقلي درجه کښته او د نفسي اعمالو ملاحظه ئې ضعیفه ده او دوی دا قدرت نه لري چې هغه څه چې په زړه ورګرزي بداسي عبارت دی ښکاره کړي چې له حقیقته سره ئې مطابقت ولري نو ممکن نه دی چې د کوچنی نفسیات چې د علم النفس له مهمو موضوعاتو څخه ګڼل کېږي د دې طریقې پر اساس دی په سم ډول سره معلوم سي دغه څه چې د کوچنیانو په باب کې وویل سوه د حیواناتو په باره کې همدغسي ده.

٦- که سربېره پر دې تولو خبرو بیا هم دا در سره ومنو چې ته د خپل ځان پر دقیقه ملاحظه باندی قادر ئې او هغه څه چې ته ئې ملاحظه کوی دقیق بیان ئې همدارنګه ستا په قدرت کې دی او له دغو ملاحظاتو څخه داسي قیمتي قوانین او اصول په لاس درغلي دي چې هغه تو له ستا له سلوکه سره خوله په خوله تطبیق کېږي خو نو بیا دا خبره در ته کېدای سي چې دغه ستا ملاحظه چې ده یوازي ستا په شخصیت پوري اړه لري او هغه قوانین چې تا ولاس ته دروستلي دي پر بل چا باندی تو له سره نه تطبیق کېږي ځکه دا شخاصو اختلاف چې دی له دې سره اړه لري چې دا فکار و ذهني جریان او د فکر وهلو طریقې او عقلونه ئې یو له بله مختلف دي نو یوازي دغسي فردي مشاهدات چې هغه صرف په تا پوري اړه ولري یوه داسي علمي طریقه نه ګڼله کېږي چې اعتماد دی پروسي.

دغه نقائص وه چې نفسیاتي عالمانو ولیدله او دوی ئې ودې ته واداره کړه چې دوخت د ثبتېدو د پاره ئې د باطني تأمل په وخت کې ځینې آلات را وایسته چې یو له هغو څخه [کیموګراف] دی.

څرنګه چې د باطني تامل او ملاحظې طریقه ناقصه ده نو د نفس نو یو عالمانو غوره کړه چې له نورو طریقو څخه استمداد وکړي نه په دې ډول چې دغه د باطني ملاحظې طریقه پر یوه مخ پسې پرېږدي بلکه دغه طریقه له هغو د مخنیو طریقو سره د شپږمې طریقې سره یو ځای کوي او د دوی په لارښوونه څېړنه کوي شپږمه طریقه داده:-

## خارجي ملاحظه

د دې معنا داده چې انسان د لویانو او کوچنیانو انسانانو او حیوانانو پر اعمالو او افعالو پام کوي او چورت پکښې وهي بیا نو د هغو اعمالو په څېړنه اخته کېږي او د [سیکالوجي] له نقطه نظره ځان په پوهوي او څه نتائج چې په ې ډول ولاس ته راولي هغه له هغو نتائجو سره مقایسه کوي چې نورو خلکو ولاس ته وروستلي او اظهار کړي وي نو په دې شان د علم النفس حقایق او قواعد زیاتوب کوي.

دا هغه طریقه ده چې د علم النفس تو له شعوري او مسلکي عالمان ئې پالي پر دغه طریقه او د تجربې پر طریقه باندی مسلکیون پوره اعتماد لري خو دغه طریقه سره له دې عظمته او اهمیته یو موټ عیبونه هم لري. «پاته لري»

د همایونی معظم اعلیحضرت هر کلی د کندهار د وګړو له خوا په ډېر
حرارت او د شاه دوستۍ د احساساتو په اظهار سره کېږي.

ښاغلی «نومیالی»

# فکر او یو عمل
# یـــــــــــــــــــــو
# د بل متمم
# دی

په دې جاری ژوند کی موږ د ژوند له نقطهٔ نظره دوې ډلی خلک لیدلای سو یو هغه خلک دی چی د ژوند کولو او ژوند پاللو دپاره هیڅ مجرا نه وینی او په هر جریان کی چی زېږېدلی وی، بس د هغه جریان مولود ګرزېدلی وی نور نو نه خپله تېره زمانه له وروستی سره مقایسه کولای سی او نه پر خپل حاضر ژوند باندی چندانی حاضر وی بلکه که ئې څوک درانه باروی هم تر بار لاندی کېږی او که ئې څوک مشکلات ورلږوی خو د دې کار په اهمیت بیا هم ډېر نه پوهېږی. د داسی خلکو پر ژوند باندی د شعوری ژوند موضوع نه سی طرحه کېدلای په زیاته بیا د هغه انسانی ژوند چی تر مرتبو پروګرامو لاندی مخ پر لوړه ځی او تر نامرتبو عواملو لاندی مخ پر ځوړه ځی.

رابه سو هغی ډلی خلکو ته چی په ژوند کی د معین پروګرام پالونکی وی او د هغی طرحی په باره کی چی د ژوند دپاره ئې خپله واضح مفکوره پر تاسیس کړی وی د هغې په پاللو کی هم مجاهده او هم مجادله کوی. داسی انسانان د انسانی شعوری ژوند په بحث کی د خبرو موضوع ګرزېدای سی ځکه یوازی د دغسی خلکو پر حرکت باندی بشری شعوری جریانونه بنا دی او بس. دغسی خلک چی ژوند د معینی مفکورې په حدودو کی پالی

البته لومړی مسئله چی د دوی په مخ کی راځی هغه د مفکورې په باره کی د حقیقت او خطاء مسئله ده ځکه ممکنه ده یو سړی د داسی مفکورې په تعقیب کی لوېدلی وی چی هغه حقیقت ولری او یا د داسی مفکورې په پالنه کی ښوری چی هغه په خپل ماهیت کی خطاء وی. له دې خبرو سره چی یوه مفکوره حقیقت او خطاء نه معروضه ده بله خوائې داده چی مفکوره دوه شکله لری چی یو ئې نظری بل ئې عملی یا تطبیقی دی. نظری شکل ئې دادی چی د

سړی په خیالی دنیا کی ئې خیالی وجود ولری او تطبیقی شکل ئې هغه دی چی په عملی ژوند کی مظاهر ښکاره وی. اوس نو د دې دپاره چی د ژوند د مفکورې حقیقت له خطاء څخه وپېژندل سی خو دا کار دا لازمـــوی چی ذهن له غیر طبیعیاتو څخه پاک او ذهنیات د هغه استدلال په چوکات کی تنظیم سی چی د هغه تشکیل صرف د سیانسی طبیعیاتو له موجوداتو څخه جوړ سوی وی. تر دې پسې چی سړی په تطبیقی ډول بـــه خپله مفکوره کی و

حقیقی او مترقی شکل ته ور برابرسی نو هر څنګه مفکوره چی څوك واری له هغې سره مطابق عملی ګامونه اخیستل هم په کار دی . په دې حرکت کی نو ضرور د سړی له عملی تطبیقاتو سره د مفکورې خطاوی په حقائقو بدلیږی او بېله دې څخه چی ارتجاع وکړی بلکه خپل مترقی اشکالو ته ځان رسوی . څوك چی له خپلی مفکورې سره عملی حرکت نه کوی نو دا داسی مثال لری لکه څوك چی دخره په بار کی سپور وی او چورت ئې په آسمانخانو کی ایله کړی وی نور نو دخره په اختیار کی وی چی هری خواته ئې وړی خو وړلای ئې سی . یوه مفکوره چی دا ډول صرف په نظری شکل کی پاته وی نو تر حقیقت ئې دخطاء احتمال زیات دی او هر څنګه چی ارتقائی و بلل سی ارو مرو په غیر شعوری ډول په ارتجاعی بدلیږی ځکه کله چی څوك په خپل فکر پسې قدم نه اخلی نو پر راڅرخېدلی جریانات چی ئې و کومی خواته وړی خو دی د هغو په مقابل کی بې حرکته پاتیږی . لېکن که له افکارو سره تطبیقی حرکت شروع وی نو ضرور سړی د خطا ایستونکو جریاناتو له غفلته راوزی او ژوند په پوره روشن بینی سره پاللای سی چی دغسی ژوند نو د انسان دپاره د حقیقی او مترقی ژوند حیثیت لری .

لکه څونه چی په انسانی ژوند کی فکر ضروری دی او د فکر دپاره صحت ضروری دی دغونه دوه واره تطبیقی فعالیت ضروری دی او یوازی له دغی لاری څخه سړی د طبیعت سره د واقعیت پر اساس داسی شناخته کېږی لکه څنګه چی د طبیعت احساس کوی هغسی ئې خیال کوی نه داسی لکه څنګه چی خیال کوی هغسی ئې احساس کوی .

ژباړونکی [ح]

# دلویانو ویناوے

د کړو نتیجه :-

نه پورته په هوا کی ، نه د دریاب په تل کی ، نه د غرو په نس کی او نه د عالم د اجزاؤ څخه په یوه جز کی داسی ځای سته چی انسان دی په هغه ځای کی د خپلو کړو له نتیجو څخه خپل ګرېوان خلاص کړی .

« بودا »

ښه کړه :-

ستاسی د فیصلو هره ثمره لکه ستوری داسی دی چی ور کېږی خو رڼا ئې اوس لا هم په خپله نجومی لار کی حرکت کوی او لار وهی ! دغه ډول ستاسی د ښو کړو رڼا خپله لار وهی حال دا چی ستاسی کړه او عمل ډېر وخت کېږی چی سر ته رسېدلی دی . نو هر څومره چی ستاسی ښه کړه هېر او ورك سی رڼا به ئې تل تر تله ځلېدونکی وی . « نیچه »

ښه میراث :-

ډېر ښه شی چی پلرونه ئې خپلو زامنو ته په میراث پرېږدی ښه تربیت او روزنه ده . « سیسرون »

« نور په ۱۰ مخ کی »

همایونی معظم اعلیحضرت دفیل کوه دبریښناد دستگاه دکتلو او پرانستلو
پاوخت کی دبریښنادلوی شرکت د رئیس ښاغلی فرهاد تشریحات اوری .

ښاغلی رحمت‌الله [کرزی]

# نومیالی پوهان

## گـــالیله

### او د هغه لنډه پېژندګلوی

علماء، پوهان، نوابغ او نور ستر اشخاص هغه چې وبشر ته ئې خدمت کړی دی یوازی خپل د زېږېدو ځای ته نشی منسوب کېدلای بلکه د مځکې د مخ ټوله ولسونه ئې خپل مال بللای سی ځکه چې د دوی د پوهنې او خدمت رڼا د نړۍ هر ګوټ ته رسېدلې ده، د دوی بین المللی حیثیت هم پدې وجه دی چې د مځکې د مخ ټوله او سېدونکی ځنی مستفید او بهره ور دی.

که موږ د بشر د تمدن روښانه تاریخ ته غور وکړو او څه نه څه د خپل فکر رڼا پر واچوو نو دا به موږ ته ښه تر اڅرګنده او دلمر په شان وځلیږی چې په نړۍ کې دا ټوله اختراعات او اکتشافات چې په سترګو ئې وینو یا ګټه ځنی اخلو صرف د یوې ورځې یا څو ورځو د زحمتو او تکالیفو ثمره نه ده بلکه د بشر د زرګونو کلونو د کوښښ او زحمت نتیجه ده چې د نن ورځې د مدنیت او ترقۍ اساس ئې ایښی دی پدې سلسله کې په سوونو او زرونو انسانانو د بشر د ښېګڼې او آرامۍ د پاره و تکالیفو او زحمتو ته اوږه ور کړی شپه او ورځ ئې پر ځان یوه کړې او کار ئې کړی دی، پدې کار او پلټنو کې ئې حتی قربانۍ ور کړی دی څو دا دی چې نن ورځ د مځکې د سر ټوله انسانان حتی حیوانان هم برخه ځنی اخلی که د دوی زحمت او کوښښ نه وای نو طبعاً به د نن ورځې دا تمدن او ترقی او دا سر پر سر مزیتونه هم نه وای دا چې د پوهانو او علماؤ اختراعاتو او اکتشافاتو د یوه ښه ژوند سره مخامخ کړی او ټوله نړۍ وال ئې مستفید ګرزولی دی دوی هم پر انسانانو ګران او هر څوک ئې په وجود ویاړی.

د دې جملې څخه یو هم د ایټالیې مشهور او نامتو فزیک پوهاند او لوړ عالم [ګالیله] دی چې زما د دې لیکنی عنوان ئې تشکیل کړی دی دا د بشر ستر خدمت ګار په ۱۵٦٤ میلادی کال په ایټالیه کې پیدا سوی دی، دا هغه وخت دی چې د ټولی اروپا مخ د ناپوهۍ تورو اوریځو نیولی ؤ.

په ګالیله کې په وړو کتوب لا د یوه پوره استعداد او ښه لیاقت نخښی ښکاره وې نو پسله هغه چې تحصیل ئې بشپړ کېدو ته ورسېدی د ځینو اختراعاتو

او اکتشافاتو وخوانه ئې مخ وروګرزاوه چې پدې لار کې ئې اوچت قدم واخیست .

## د ګالیله د اختراعاتو څخه

تلسکوب دی چې په همدې خپله اختراع سره ئې د لمر په باره کې ځینې معلومات و لاس ته راوړل او همدغه رنګه ئې د نورو ستورو حالات و ځانته معلوم اود [کوپرنیك] قانون ئې پای ته ورساوه او دائې هم د لومړی ځل دپاره اظهار کړه چې مځکه ګردۍ ده او حرکت کوی، کله چې خلګو په زیاته بیا [پاپانو] ددو دا خبره وارویدله ډېر وخروښېدله او دی ئې په کفر سره ملزم کړ څرنګه چې پدغه وخت کې سیاسی او مذهبی اقتدار د پاپانو په لاس کې ؤ او دوی هیڅ کله دداسی نظریاتو غوښتنه نه کول . ځکه دداسی خلګو ظهور او دداسی نظریاتو خپرېدلو او منځ ته راتللو په وجه ددوی مال، عزت او جاه ؤ جلال ته صدمه رسېدل نو دا کار چې ددوی په ضرر تمامېدی په یوه لوی مخالفت ئې لاس پوری کړ او د بشر پردې نابغه باندی ئې په ۱۶۳۳ میلادی کال دا حکم وکی چې دی یو لوی مجرم دی او خلګ ګمراهان کوی کله چې ګالیله وخپل ځان ته دا عذاب متوجه ولیدی ددې دپاره چې مراد ځنی پاته نشی ظاهراً ئې توبه وکښله او ځان ئې آزاد کړ مګر خپل فکر ودې ته پرې نښاوه چې دغسی پسې پاته شی او خپلی خبری ته ئې دوام شروع کړ چې دادی نظریه ئې پسې تائید سوه .

## «د لویانو ویناوی»

اخلاق:-

اخلاق د نړۍ د لویو محرکه قواؤ څخه دی او د خپلو نظاهراتو په کمال کې انسانی طبیعت په خپل ډېر لوړ او عالی شکل کې مجسم کوی .

«اسمایلز»

خطرناکی کلمې:-

بیخی بدی او خورا خطرناکی کلمې دادی: «ټول دغه ډول دی» . «تولستوی»

ښه اوسه:-

داسی و اوسه او ځان داسی کړه چې و هر چا ته و ویلای سی: «لکه زه، ځان داسی کړه» . «کانت»

ښه خوی:-

هغه څوك چې ښه خوی لری هیڅ کله یوازی نه پاته کېږی ځکه تل ځان ته دوستان او ملګری پیدا کوی .

«کنفوسیوس»

ضعیف موجود:-

که انسان خپل ځان تر هغه مقام چې پکښې کی دی لوړ نه کړای سی یو ضعیف موجود دی . «دانیل»

داخلاقو خاوندان:-

داخلاقو څښتنان د خپلی ټولنی روح دی . «امرسون»

اخلاق:-

اخلاق د علم، مال، مقام ښکلا او نورو مزایاؤ ځای نیولای سی خو هیڅ نعمت د اخلاقو پر ځای نسی درېدلای .

زما غوښتنه:-

زه تل غواړم چې د شریفو او نجیبو خلګو پیروی وکړم او له دوی څخه یو شی زده کړم «شکسپیر»

ښاغلی محمد حسن «ساپی»

# د مادی اصالت او د معنی اصالت

## ماتریالیزم او ایدیالیزم

تفکر او تجسس د بشر فطری خاصه او ذاتی ملکه او دهغه طبیعی استعداد دی له همدې کبله هر کله په هغه څه کی فکر کوی چی نه پری پوهیږی او هغه څه لټوی چی له سترګوئې نیهام وی د اشیاو او پېښو په یواځی لیدلو هم قناعت نه کوی بلکه غواړی چی دهغو په ماهیت او حقیقت هم پوه شی.

نو د بشر دغی فطری غوښتنی یعنی د اشیاو او پېښو د حقیقت او ماهیت استدراک د فلسفې موضوع او غایه منځ ته راوستله.

څرنګه چی حقیقت تولو ته په یوشان نه بلکه هر چا ته دهغه د تفکر او ذهنیت په اندازه بریښی نو له همدې کبله بشر دیوې پیښی او یا دیوه شی د حقیقت او ماهیت په باره کی یو له بله مختلفی نظرئې ښکاره کړی دی چی د حقیقت په باره کی درایو او نظریاتو اختلاف او تو پیر د فلسفې د تعدد او اختلاف موجب شوی دی دیوې اوږدې تاریخی زمانې په ترڅ کی ډېر او راز، راز فلسفې مکتبونه منځ ته راغلی او هر مکتب په سلګونو مربیان او ښوونکی او په زرګونو شاګردان او پیروان لرلې او روزلی دی مګر په عمومی او کلی ډول فلسفه او فلسفی نظریات پر دوو لویو مکتبونو چی په عین حال کی یو د بل ضد او نقیض هم دی وېشل کېږی چی دغه دوې متباینی او مخالفی فلسفې عبارت دی له ایدیالیزم او ماتریالیزم څخه.

زه غواړم چی په دغه لنډه مقاله کی د دغو دوو مختلفو فلسفی مکتبونو مبادی او د دوی تر منځ اساسی اختلافات بېله دې چی خپل ډېر لږ تمائل هم د دغو فلسفونه یوې خوا ته دلته ښکاره کړم د هغو ښاغلو لوستونکو د پاره چی له دغسی موضوعاتو سره علاقه لری ولیکم نو بنا پر دې لومړی ایدیالیزم تر بحث او څېړنی لاندی نیسم:-

ایدیالیزم (معنوی فلسفه، خیال پرستی) ایدیالیزم ؤ رئالیزم (واقع پرستی) او ماتریالیزم (ماده پرستی) په مقابل کی واقع دی وائی چی: د بشری استعداد او د تکامل د قانون په اقتضا ایدیالیزم وروسته له ماتریالیزم څخه منځ ته راغلی دی.

هغه محور چی د ایدیالیزم دنیا پری څرخی روح او هغه تاداو چی د دغی فلسفی مانۍ پر بنا ده روحانیت دی.

هغه چا چی د ایدیالیزم دنیا په

برهان او دلائلو توده او رنګینه کړه او پدغه لړ کی ئې مدلله بحثونه وکړل افلاطون، سن-اګوستین، توماس مور، دیکارت لایب نتسن، کشیش کالوین، دوکتور راپوپورت، موریسن میترلینګ او داسی نور ؤ.

کشیش کالوین وائی: چی ماده نشته هرڅه چی شته هغه عقل او روح دی کوم چی موږ ئې ماده بولو هغه زموږ عندی او نسبی تصور دی یوڅه شی چی موږ د هغه په شاوخوا کی فکر کوو په هم هغه ساعت کی پیدا کېږی او که موږ یو څه شی خپل خیال او فکر ته رانه وړو نو هغه شی نشته په ساده عبارت دی وائی چی نه مځکه شته او نه آسمان نه ستوری شته او نه لمر او نه سپوږمۍ نه او به شته او نه خاوره.

هغه ګرده چی موږ ته شته ښکاری هغه روح او مجرد عقل دی او بس.

لایب نیتس عقیده لری چی د هر شی اساس او تاداو روح دی چی دغه روح په ډېرو ذراتو چی شمېر ته نه راځی وېشل شوی او توله دنیا او نور کائنات له دغو روحی ذراتو څخه ډکه ده او هر شی چی وینو همدغه روحی ذرات دی.

ایدیالېزم ادعا کوی چی ماده احساس او حرکت نشی کولی او فکر له مغز څخه چی یوه تینګه او تاریکه ماده ده نه زیږی او هغه قدرت چی د هغه په ذریعه د اشیاو او پېښو د حقیقت او ماهیت ادراک کوو هغه مجرد عقل دی چی له مغزه سره هیڅ تعلق نه لری بلکه یوه روحی قوه ده.

او وائی چی عقل پخپل ذات او پخپله اراده د شیانو او پېښو ادراک کوی او په دغه لیاره کی له خدایه څخه مرسته غواړی او خدای هم د شیانو چهرې او شکلونه د انسان په عقل کی ترسیموی او موږ مجازاً هغه رسمونه او صورتونه حقیقی شیان ګڼو.

ایدیالېزم عقیده لری هغه څه چی په کائناتو او یا په بشری ټولنه کی پېښېږی هغه ټول مستقل او یو له بل سره اړیکی او ارتباط نه لری یعنی هیڅ علت معلول او هیڅ معلول علت نلری د شعور په باره کی وائی: چی شعور یو ازلی او ابدی او مستقل شی دی او مادی عالم او بشری پېښی د هغه انعکاس دی که شعور نه وی نو مادی عالم او طبیعت هم نشته او زیاتوی چی بشر پخپله اراده کی آزاد او مخیر دی هغه څه چی کوی هغه دده له خوا بېله دی چی کوم مجبوریت احساس کړی په مستقل ډول سره کېږی یو ایدیالسټ د دیالکتیک ماتریالېزم په خلاف د یوه شی او یا د یوې پېښی د حقیقت او ماهیت د معلومولو په منظور یو اځی د هغه شی او یا د هغی پېښی په مطالعه او تحقیق اکتفا کوی بېله دی چی د هغو علت العلل او ماحول ته مراجعه وکړی ایدیالېزم د طبیعی عالم په حرکت او نشونما او تکامل باندی هم عقیده نه لری او وائی چی طبیعت او هستی نه خوزیږی نه تغیر کوی او نه تکامل مومی هغه څه چی موږ ئې تغییر حرکت او تکامل ګڼو هغه زموږ یو اځی خیال او تصور دی او فرضاً که طبیعی عالم حرکت هم ولری نو دائروی به وی یعنی چی له یوه ټکی څخه د هغه حرکت شروع کېږی او بېرته پر هغه ټکی راګرزی او که تغییر هم پېښ شی نو په کیفیت کی به وی نه په کمیت کی ځکه چی د کمیت له تغییر

او بدلون څخه هیڅ نه زیږی او یوه طبیعی او یا بشری پېښه هم هغه وخت تکامل مومی چی هغوی پخپل منځ کی کوم تضاد ونه لری او ګرده ماحول او محیط ورسره متفق وی .

ایدیالیزم ادعا کوی چی د اشیاؤ د ماهیت او حقیقت ادراک د بشر له قدرت او توان څخه لیری دی او انسان نشی کولای چی پخپل نیمګړی عقل او شعور د اشیاؤ او پېښو په حقیقت او ماهیت پوه شی او پدغه لړ کی د بشر معلومات نسبی او اعتباری دی .

ایدیالیزم د روح ابدیت او نور و هغو پېښو ته چی په خارق العاده ډول او یا دیوې معجزې په څېر واقع کېږی عقیده لری په همدې ډول سحر او جادو هم له امکان څخه و تلی مسئلی نه ګڼی .

او یو څه شی چی د بشر د خیر او نجات او د دنیا او آخرت د نېک مرغی موجب او وسیله ګڼی هغه مذهب او نېک اخلاق دی .

د ایدیالیزم د دغو پرنسیپونو په اساس یو ایدیالست پخپل ژوند کی زیار باسی چی دنیا او د دنیا اوضاع له خپلو خیالاتو او تصوراتو سره برابره کړی او دنیا ته د خپل خیال او تصور په عینکو کی وګوری او دغه لو به دنیا پخپل ځای کی وپلټی او مطالعه ئې کړی نه داچی وغواړی چی دنیا دی د ده په مرام وڅرخی .

داؤ د ایدیالیزم (خیال پرستی) اساسی او اصلی پرنسیپونه چی ډېر مختصر او د اوټ لاین په صورت ذکر شول او په همدغه ځای کی د ایدیالیزم بحث ته خاتمه ورکوم او ماتریالیزم چی د دغی فلسفې په مقابل کی واقع دی تر بحث لاندی نیسم

ماتریالیزم (مادیت او مادی فلسفه) لکه څرنګه چی د مخه مو وویل ماتریالیزم په تمامه معنی د ایدیالیزم په مقابل کی واقع ده کوم محور چی د ماتریالیزم دنیا پری څرخی هغه ماده او طبیعت دی .

دغه فلسفه په علمی او تجربوی دلائلو او شواهدو ادعا کوی چی ماده پخپل ذات یو عینی او واقعی حقیقت دی .

روح له مادی څخه زیږی لومړی ماده او بیا روح دی او هغه څه چی په متافزیک پوری اړه لری هغه پوچ تصور او مطلق وهم او خیال دی .

هر څه چی دی همدغه طبیعت دی د ماتریالیزم مکتب یو لرغونی تاریخ لری زللر د یونانی فلسفې یو معاصر محقق او پوهاندوائی : چی د لرغونی یونان له لسو څخه ونهه نه فیلسوفان او عالمان ماتریالست ؤ لکه طالیس ، دیموکریت ازینون او اپیکور .

هغه وخت چی مسیحیت منځ ته راغی دغه مکتب لږ شانته هېر کړی شو خو بیائې د رنسانس د دورې په آخر کی رونق وموند په ۱۸ پېړۍ کی چی په فرانسه کی د عقیدې آزادی پیدا شوه د دغه مکتب بازار بیا تود شو او په ۱۹ پېړۍ کی چی سائنس زیات پرمخ ولاړ طبیعت او طبیعی عوارض علماً او په تجربه سره تفسیر او تعبیر کړه شول نو د دغی فلسفې د انکشاف او نمو د پاره ښه زمینه مساعده شوه تر څو چی نن زیاتره بیولوجستان او روحیات پېژندونکی ماتریالیست دی په نو یو پېړیو کی هغو پوهاندو چی و ماتریالیزم ته رنګ او رونق ورکړ او بیا په دغه لړ کی ثقه او علمی کتابونه ولیکل او دغه مکتب ته ئې خاصتاً یو

علمي رنګ ورکړ هغه او ماس-
هابس، کارل، مارکس، انګلس
مارك تو آئین، لینن او داسې
نور دي.

ماتریالیزم لومړی د روح او
فکر په باره کې وائي: چې
روح د مادي خاصیت او فکر
د مغز چې یوه تاریکه او غلیظه
ماده ده زیږنده ده، او تفکر
له مادې څخه نشو جلا کولی.

کارل مارکس د دیالتیك
ماتریالیزم د ایدیالیزم په خلاف
ادعا کوي چې طبیعت د کائناتو
یوه تصادفي مجموعه نه ده او
هیڅ شي په کائناتو کې په
مستقل ډول نشته او ټول کائنات
یو په بل پسې د ځنځیر د حلقو
په څیر سره تړلي او مربوط دي
که څوك غواړي چې د یوه شي
په حقیقت پوه شي نو هغه شي دي
یوازې په مستقل او جلا ډول
نه مطالعه کوي بلکه د هغه شي
فعل او انفعالات، محیط او ماحول
اضداد او نور هغه شیان چې
ورسره اړیکې لري هم دي تر
مطالعې او څېړنې لاندې ونیسي.

دیالکتیك ماتریالیزم وائي:
چې طبیعت لکه څرنګه چې
ایدیالستان فکر کوي ساکن
او بې حرکته نه دي بلکه
حرکت او تغییر کوي او مخ پر
لوړه ځي تکامل کوي له منځه
ځي، زړیږي او زیاتوب پیدا
کوي ولې چې تکامل د کمیت
د بر له پسې مګر سست او مداوم
تغییر بدلون دي په یو ناڅاپي
کیفیت سره.

او د تکامل دوران داسې ندي
چې له یوه ټکي څخه شروع شي
او بېرته هم هغه ټکي ته راشي
بلکه د تکامل سیر او دوران
مخ پر لوړه او ارتقائي دي د
زوړ کیفیت بدلون په نوي
کیفیت سره، یعنې له ساده څخه
مرکب ته او له ادنی څخه اعلی
ته ماتریالیزم دیالکتیك عقیده
لري چې په طبیعت کې هر شي او
هره پېښه پخپل منځ کې اضداد
او تناقضات لري او ټول یوه
منفي او یوه مثبته خوا یو ماضي
او یو مستقل لري او پخپل منځ
کې داسې عناصر لري چې ځنې
ئې مخ پر فنا او نابودي دي
ځینې ئې د ترقي تکامل په حال
کې لیدل کېږي د دغو اضدادو
او تناقضاتو تر منځ جګړه د
نو یو او زړو تر منځ جګړه او د
هغو چې مري او فنا کېږي او د
هغو چې نوي پیدا کېږي د
دوي تر منځ جګړه دغه ټولې
جګړې او شخړې د تکامل پایه
او اساس ګڼل کېږي.

ماتریالیزم وائي چې دنیا لکه
څنګه چې ایدیالستان تصور
کوي د مطلق عقل مظهر او
زیږېدنه نه ده بلکه دنیا پخپل
ذات کې ماده او د مادې راز
راز پېښې او مختلف صورتونه
دي.

هراکلیتوس د یونان لرغوني
پوهاند وائي: چې عالم د هیڅ
خدای یا د هیڅ بشر له خوا نه دي
خلق شوي او وائي چې اصل د
مادې محصول او نتیجه ده یعنې
فکر د مغز محصول او مغز د فکر
غړي دي.

انګلیس وائي: حقیقت یوا ځي
په همدې مادي جهان کې دي
چې په ښځو ظاهري حواسو سره
درك کېږي او عقل او شعور د
یوې مادي عضوي زیږېدنه ده
چې هغه مغز دي او ماده د عقل
مخلوق نه دي بلکه برعکس
عقل د مادې مخلوق دي.

په همدې ډول ماتریالیزم د
ایدیالیزم په خلاف ادعا کوي
چې د شیانو ذات او حقیقت
کاملاً پېژندل کېږي او د
کوم شیانو حقیقت او ماهیت
چې لا تر اوسه ندي ښکاره شوي

ښاغلی عبدالحی «حبیبی»

# لویه گټه

د بهاندی سیند په منځ کی
ښه پر ته په متانت وه
ما لید له لویه گټه
له آفته نه وه پټه

شاو خوا ئې سېل روان ؤ
ډېر په قهر خروښان ؤ

وې څپې د سېل روانی
پر دی گټی ئې هجوم کړ
خړی غورځندی غرانی
بیا به شولې سره ورانی

تینگ پیکار ؤ سخت ئې جنگ ؤ
پردی گټه ئې غورځنگ ؤ

گټه وه تینگه ولاړه
نه ئې تره وه نه ئې بېړه
ښه متینه هم سنگینه
بې پروا له دې ناورینه

څنگ ئې ؤ ور کړی سېل ته
غوږ ئې ایښی قال و قیل ته

سېل کولې ډېری غورې
غریدلی خروښان ؤ
لواړی هم ترخې خبری
وې حملې ئې لری بری

---

وروسته به د سیانس له برکته ښکاره شی.

ماتریالیزم وائی: چی په تاریخ کی هیڅ یوه پېښه ناڅاپه او اتفاقی صورت نه نیسی او ټولی پېښی د علیت په قانون پوری چی هغه د تاریخ جبر بولی تړلی دی. نو ځکه باید په تېره بیا په اجتماعی علومو کی د تصادف او اتفاق موضوع باید لری کړه شی ځکه چی عالم او جامعه پخپل تکامل او ارتقا کی د جبر تر قانون لاندی دی او د یوې ذرې قدر د اختیار ځای نه پکښی لری، او په ډېر جرأت سره ادعا کوی چی د اجتماعی او سیاسی نظامونو اصلی او اساسی عامل آراء او عقاید یعنی ووحی عوامل نه دی بلکه منحصراً اقتصادی ضروریات دی چی د تمدن په ټولو مظاهرو کی حتی په آراؤ، معتقداتو ادبیاتو، اخلاق او روحیاتو کی اثر او نفوذ لری.

ځك په خوله ؤ پوښېدلی
غور ځېدلی خروښېدلی

شېبه وروسته هښمه ولاړه — له جوشه سیند آرام شو
څو چی ښورېدی ژوندی ؤ — دا آرام ئې هم انجام شو

په غور ځنګ کی ئې حیات ؤ
وسیله ئې د نجات ؤ

چی د سیند څپې سوې کښته — ګټه هسی وه ولاړه
په خندا خندا ئې ووې: — (ژوند په هسی ځای کی غواړه)

دا چی سېل ګډ په غور ځنګ ؤ
زما د ژوند بشپړ بدنګ ؤ

په زرو زرو کلونه — دامی ځای دامی مسکن دی
که سېل راسی که طوفان سی — زړه می هیڅ نه په امن دی

ځکه دا زما منفعت دی
استحکام می د بنیت دی

په هر کال چی سېل بهاند سی — رېګ او خټی راوړی ما له
زه هم هغه ځانله جذب کړم — ګټه اخلم له دې حاله

زما بدن په قوی کیږی
سېل چی هر څو نی بهیږی

دی که هر څو هیاهو کړی — زه د ژوند توښه تری مومم
له څپو می پروا نسی — د حیات جوهر ئې شومم

د ژوندون می ده دا ګټه
یمه کلکه لویه ګټه

# رباعی

سکندر که تر پښور بع مسکون و کیښ — څه ارمان ئې به نابوده ژوندون و کیښ
ښه نوم و ګټی که نه غواړی چی مړه شی — ارسطو ئې پرمزار دا مضمون و کیښ

«رشاد»

ښاغلی عبدالشکور رشاد

# د پیغور حسرت

چې لښکرو د جسرت «۱» راوی ناتار
پښتانه محلمی ئې کړله تار په تار

د ډیرې میندې سره بوری کړې بریدوالو
د ډیرې خوندی سره ورارې کړې تینګار

د ډیرې ناوې «۲» سره کونډې کړې بریو
د ډیرو غشیو سره بیودل زړونه زغرې

د ډیرې تورې سره پخې شوې بریږو
د ډیر سرونه د محلمو په سانګو نجتې

د ډیر سرونه لغړیدل په وینو لړند
د ډیر ورانونه وو تر سوو لاندې مات شوې

د ډیرې هیلې نیمه خوا کړې غښتلو
په اولجه کې ئې بندې بوتې جسرت ته

پر کهګر تېر د سوبې لمر راوخوت
بریالو به په نخوت وراندې کولې

ورښوول به فیروزخان جسرت کهګر ته
په ئې ترخ کې ئې بو سر راوې دربار ته

سرئې مه بوله د سرو کلو کېدې وه
له ښکلا څخه وې میندې باندې خوندې

ناز بیدلې په وصال د جنت ښکلې
ښا بهرو به ئې بلا بلل خپل لور ته

په کتو ئې بانه غشې شول د زړونو
پر خوانې باندې ئې ترې کړې هغو اوښکې

پښتانه محلمې ئې کړله تار په تار
د ډیرې خوندې سره ورارې کړې تینګار

د ډیرې نجونې یتیمانې کړې ایثار
د ډیرو نورو سره سکښتل سرو سپار

د ډیر سرونه وو پسرانه انبار انبار
د ډیر سرونه د مېړو د فتراك بار

د ډیر ننو نسه تر بیدل پرهار پرهار
د ډیر لېچونه وو تر ښو لاندې افګار

د ډیر ډاکونه ئې په وینو کړل ګلنار
فیروز خان د پښتنو لودې سردار

ښادنامو ئې پر سر واخیستې دربار
کګرې د نومیالیو وار په وار

د هر نوم و کهول د ملك و تبار
چې «فیروز» ئې له نامه وکا انکار

نامرادې ئې ژړول یارو اغیار
له پرتمه ئې زمریو کاوه دار

پرښتو ئې په ټپاك ځار له لار
ښایستو به ئې پر زړو اخیست کذار

په لیدو ئې دښنو ووایه ځار ځار
چې ئې وینو ونه تېرې وو بار بار

---

«۱» جسرته د پنجاب په شمالي برخو کې د کهګر قام مشر و په ۸۴۳ هـ ق کال ئې د دهلي د پاچا سلطان محمد شاه په حکم د سر هند پر پښتنو برید و کړ.

«۲» ناوې [ناویانې].

په کلو چې ئې مرکې وته سترګې وو
هغه خولې ئې په ثنا ستاینه سر شوې
ډېرو ډېرو ئې پر توره آفرین کړ
ډېرو ډېرو ئې قصې د ټینګار وکړې
ها له ووې په مسا فیروز ښاغلی
دا زما د لېمو تور د کوګل ستن وه
دا زما د ګورت توبرې، د موتی تېغ ؤ
دا زما د پېزی ساه، د ښارګ وینه
دا زما د کهاله مالګه د کورخوند ؤ
دا زما د لاس امسا، د امید څانګه
په حیرت ورته جسرت ووې فیروزه!
ستونی ډک شو د فیروز له ډېره غرېبه
وې ئې موږ هیڅکله نه شمېرو په ځان کې
څوک چې ژغوری پر ناموس څړی له توری
څوک چې تمه په پرېږدی د سیالو سیله
څوک چې نه پېری جنت په لپه وینه
څوک چې نه تړی د کفر مخ په موټو
څوک چې پرېږدی و د ښنو ته میدانونه
مائې نوم پر ژبه نه واخیستیء ځکه
هسې نه چې «شاهین» «۱» مړوی په سپېتانه

شول هغه غلیم لېمه پسې خونبار
چې ئې وازی په ښراوې هر سهار
ډېرو ډېرو شا باسی کړه پرې نثار
غلیمان ئې پر مېړانه شول اقرار
چې دا راز به اوس په فخر کړم اظهار
د غلیم د زړه نشتر، د سترګو خار
د غلیم د پښو ځنځیر، د غاړی مار
دا زما د کوګل زړه، د زړه قرار
دا زما د باغ مېوه د بن بهار
دا زما د ژوند حاصل د مرګ یادګار
تا لومړی ولی وته ښرو دا نامدار
تر لېمو ئې ورته وغورځېد شرار
څوک چې مخ پر تندی نه واخلی ګذار
څوک چې نه اخلی پر زړه د ننګی وار
څوک چې هیله په پلوری دین په دینار
څوک چې نه ښندی یو سر د خدای پر پار
څوک چې نه سی د اسلام تر ننګه جار
څوک چې نوغی پر نامه ږدی د فرار
هسې نه چې ورڅه شوی وی ادبار
خدا ومه کا چې راپاته نشی عار

د زرو نامرادو زویو داغ «جسرته»!
په حسرت د پېغور نه ارزی د پلار

---

«۱» شاهین خان د فیروز خان د زوی نوم ؤ.

مرحوم عبدالله
د سپین بولدک

# د خپل وطن د ښت ؤ غر

د وطن زوزمی تر بل گلستان خوښ دی
تر بردی مانۍ می غر د افغان خوښ دی

خان ؤ بېگ می د بل ځای څه په کار نه دی
زما د خپل وطن شپانه او گوروان خوښ دی

مدام پروت وی په کېږدۍ کی میږی پیائي
تر کشمیرئي خپل وطن او دامان خوښ دی

د پوتی پر سر مدام بې غمه گرزی
د بل چا تر بنگلو ئي بېبان خوښ دی

د پردی وطن سړی که ډېر عالم وی
زما د خپل وطن سپین ږیری ؤ ځوان خوښ دی

د ښت ؤ غر د خپل وطن راته گلزار دی
د شپلی گوال می تر باغ د خاقان خوښ دی

عبدالله یم زما کور دی په سرحد کی
خپل وطن می تر دا توله جهانه خوښ دی

---

# څلوریځه

گلرخان درومی سبا مېلې ته
باباولی ته ، څموک سرپوزې ته
حیران پرلاری زه شمس الدین یم
چی پورته درومم که مخ و کښې ته
«شمس الدین کاکړ»

د ښاغلی [غروال]
ژباړه

تاریخی :

# د بشرے فکر لومړنی آثار

د تخیل مرغۀ چی له تاریکو ځنګلو څخه وزی او لومړنی قبائل پرېږدی نو د مصریانو په مرموزو معابدو کی ګام ایږدی او د شرق له ځلانده تمدن سره آشنا کېږی .

ډېر کلونه مخ کی تر هغو چی مصری حماسۀ ویونکی د دریم توت مس یا دوهم رامسس د لوی فرعون پلار د دوی دربار ته راشی او خپل په زړه وړونکو ترانو سره خپل تولواکان چی د «لمرزامن» او د «بهیم تاج» ئې بلل، وستائی په مصر کی ډېر هنرمندان او لیکونکی وه .

د «ممبیت» د دورې او دریمی څلرمی، پنځمی شاهی کورنی ډېر آثار د «هیروګلیف» لیک یعنی مقدس خط د هغو څخه پاته شوی دی چی د هغو وختو موهومات، خرافات، مذهبی مراسم فلسفه او ادبیات و موږ ته راښئی نو دا هغه آثار دی چی د آینده وختو او نسلو ته د فرعونی عصر د ژوند خصوصی او عمومی جزئیات ور ښکاره کوی د لومړنیو دورو د څلرمی شاهی کورنی یو مشر چی کله د ژوند و مینی ته رسېدلی او په ابدی خوب د جیونی په قبر کی پرېوتی له خپلو خپلوانو څخه ئې وغوښتل چی د قبر پر تیږه ئې دا سی لقب و کیندل سی چی پسله مرګه هم د ده نوم په لوړ وی دا لقب په دې ډول ؤ چی: «په قبر کی پروت سړی د کتاب خانی رئیس دی» له دې څخه اوس موږ چورت ور وړلی سو چی په هغه وخت کی کتاب، ادبیات او فلسفې هم وجود درلود او کتاب خانه دومره محترم شی وه چی د شاهی خاندان یو ستر مشر هم د دې د ساتلو او ریاست په لقب پسله مرګه افتخار کاوه .

د دې کتابونو لویه برخۀ چی له منځه تللی ده بې ګمانه ویل کېدای شی چی دا به د «می نی باچا چی ممفیس د ښار جوړونکی ؤ لا ډېر تر مخه وه د هغو ورکو کتابونو څخه د مړو کتاب یو مقدس کتاب ؤ او نور تاریخی شعری کتابونه چی د پاچهانو په ستاینه کی ویل شوی وه او د هغه وخت د پاچهانو اخلاق او روش ښه ځنی ښکارېده او یو شمېر رسالې چی د هغه وخت ظاهری او باطنی علوم ئې ښوول له منځه تللی دی .

د مصریانو مقدس کتابونه چینائی مقدس کتاب «کینګ» او د آریایانو ترلرغونو مقدسو کتابو ودا او اوستا څخه ډېر قدیم دی .

د مصر د شمال او جنوب لومړنی نژادونه وړوکی اسیا د سپین پوستانو له ښاخلی څخه وه ، کومۀ مځکه چی د روم بحیرې او توری بحیرې او د قفقاز د غرو او خزر بحیرې په منځ کی واقع شوېده پخوا ډول ، ډول نژادونه پر هغۀ

او سېدل د دې قوموڅخه یوه برخه د بلرو او نیکه ګانو په مځکه ئې زړه تړلو ؤ پر هغه اوسېدل او بله ډېره برخه په دې پلټنه راوتلی ؤ چی د آسیا تر شمالی برخو دښه اوبو او هوا مځکه ځانته پیدا کړی نو مخ پر کښته راغله او د کلدی لوی ملك د دې قوم ځای شو .

آکدیان د همدې صحرا ګرزېدونکو قبایلو څخه یو قوم ؤ چی کله به مستقل ملت ؤ او پر یوه ځای به اوسېدل او کله به ئې د صحرا ګرزېدو یعنی د یوه ځای څخه بل ځای ته هجرت ژوند اختیار اوه .

آکدیانو نه د خبرو او لهجی او نه د مذهبی معتقداتو له نظره د هغه وخت د یوه ملت سره هم بستګی نه درلوده .

آکدیان او سومریان د تمدن څخه ډېر لیری وه خو کله چی د دجلې و شاوخوا ته ورسېدل قانون خط او دین ئې و پېژاند وروسته دې اندازې ته ورسېدل چی هیڅ ملك له دوی سره برابری نسوای کولای ښارونه ئې جوړول د اوسپنې څخه ئې آلات تیارول او د وړیو تاوول د مجسمو جوړول د دوی ښه زده وه .

د ننني پوهنې لوی کمال دادی چی اوس موږ کولای سوای چی د هغه وخت لیکونه ووائی د «اآنادو» لیکل شوی ډېر لیك چی په «سارز» کی کشف شو او اوس «لوربه» موزیم کی پروت دی علاوه پردې چی د هغه وخت د یوه مشر چهره پر کیندل شوی د هغه وخت الفبا هم پر لیکلی چی ٤ یا ٥ زره کاله دمخه د «اور» او «سیربولا» اوسېدونکی دیو بل پوهېدلو لپاره استعمالوله او دوی به دا ډول ډېری د قبرو په شاوخوا کی اېښودلې .

تقریباً د ٤٥٠٠ کلو څخه تر ۲۰۰۰ کاله تر میلاد دمخه آکدیان او سومریان د دجلې په شاوخوا کی مستقلا اوسېدل څو آخر د سامی قوم په زور له پښو واچول سوه او یو مخیزه محوه شوه .

دې قوم خپل د ځای کښېنستلو خلکو یعنی آثوریانو او فنیقیانو یا یهودیانو لپاره په میراث کی خپل د خبرو مدنیت ډېر شیان پرېښول یهودیان چی پسله همدې درو قومونو څخه و میدان ته راغله د هر جهت څخه د دوی د تمدن مرهون ؤ .

د شعر ډولونه چی را وروسته دوی د تورات ته منسوبول او افتخار به ئې په کاوه نو څرنګه چی اوس تحقیقات کېږی دا توله د آکدیانو د ابتکاراتو څخه بلل کېږی په زبور کی چی داؤد پیغمبر علیه السلام منسوب دی د آکدیانو د وخت ډېر دستورونه پراته دی .

دلویانو خبری:

## اخلاقی فضیلت

هغه څوك چی د قوی عزم او متینو اخلاقو درلوونکی وی هیڅکله خپل اخلاقی فضیلت د ژوند تر هوسونو نه فدا کوی، هر! په دې نړۍ کی هغو مېړونو ژوند کړی دی چی د خپلو اخلاقی فضیلتو د تکمیل او ساتنی د پاره ئې خپل جسم او روح قربان کړی دی .

«کنفوشیوس»

### د اخلاقو تغیر

د تینګ عزم او ارادې درلوونکی هم د خپلو اخلاقو له تغیر څخه عاجزه دی . «....»

د ټاګور له آثارو څخه:

مترجم ښاغلی [رشاد]

# سوالګره نجلی

د «سرسوتی» په ښار کی کاختی شواه د بېوزلو غلبلو آسمانونه ولړزول مهاتما بدهه خپل مریدان راوبلل او یو یو ئې وپوښتېد.

څرك به وی چی دوږو دمړولو ذمه واخلی؟ دښار ماره سوداګر مریدانو ئې وویل: ستر ستانه ښار له ښاره سره اړاوږی مری زه دیره وس نه لرم چی ټول وږی دی ماره کړای شم.

د کلی ملك وویل: اې منلی دوینو وروستی څاڅکی می لا نرچارا زره می دغریبانو پر بخولو (مصائبو) نو کرنو کړ دی مګر څه وکړم پخپل کور کی شومه نه لرم.

د کام خان و اوسیدل او وې ویل: داسی ښکاری چی زما پر کښتو د بلا ساه ختلې ده دومره به ځینی راتشی چی د باچا د مالیې غاړه دی به وروزی څه نه لرم څه وکړم.

ټولو زغرده ته وکړه د ښار خلکو بو د بل خولو ته سره کتل د مهاتما بدهه اسامینده کتو د کاختی روهلی ښار لورته هسی کتل لکه د شپې پای نه چی ستوری زیی به دې ترخ کی یوې سوالګری پېغلی پورته پر ځان سره راوغښت او د خلکو د منځه راوباخېدله د مهاتما بدهه پښې ئې ونیولې به خورا بسته او خوږه ژبه ئې ورته وویل: باداره زه چی یوه سوالګره نجلی یم دا کار پر خپله غاړه اخلم د دې ښار خلک چی له اوږی په کوکارو دی کرده زما زامن دی او زه به د دوی مړولو لره د ښار په کوټ کوټ کی پلو کرزوم.

د ښار خلک هیڅ بیش پاته شول چی یوه سوالګره نجلی چی پخپله د یوه سرالګر لور او یوې وچی کولې ته اړه ده څنګه کولای شو چی د درست ښار د مړولو ذمه واخلی.

یوه وپوښتېدله د نه څنګه د مړه ذمه اخلی؟؟

سوالګره نجلی د خلکو له منځه پاڅېدله او بسته خورا درناوی ئې ورته وویل:-

زما څخه یو کچکول شته زه داډه یم چی هیڅکله به ئې نش نه راوړم زه ترناسی او ترټول ښار بېوزله اسکېرلی او خوار کړیم مګر داډارم کله چی ناسی ته د سوال له پاره ودریږمه نه به می ترتیر او کله چی کچکول درته ونیسم نش به ئې نه راپریږدی زه به ستاسی مرسته حاصله کړم ځکه چی خورا ننلی یمه او نتلتوب تل زړو نه راکاږی زما سره د غلو ګدامو نه شته ناسی به ووایاست چیری؟

زه به ووایم ستاسی یه کورو کی زه به د ښار پر بډایانو پلو کرزوم او بېوزلی به مړوم که می ناسی مرسته وکړی کچکول به می تل نش نه راځی د دوی هغه ګولې چی به سوال راوړمه به بېوزلو به ئې خورمه زما زړه خورا لوی دی تر هور پېژی ه ـ ه!

[ د څښتن په توکل یو د بل مرستیال شی کاختی به پخپله ور که شی ].

ښاغلی مولانا محمد شریف [حبیبی]

ښاغلی مولانا محمد شریف حبیبی زموږ د پخو لیکوالو څخه دی د [۳۰] کالو راهیسې د دوی مقالې د مملکت په جرائدو کی خپریږی دا مضامین ئې ډېر ځله د کابل، کندهار، هلمند په خپرونو کی لیدل سوی دی، مولانا پرته د نثر څخه نظم هم لیکلای سی.

د یوې موضوع په لیکلو چی پیل کوی دومره چټک پر روان وی لکه د عدلی محکمو محرران چی وثیقې او نور هغه اسناد چی تر زر واره ئې بالا تکرار کړی وی لیکی یا لکه د خاشخاشو په کښت کی چی تار یاك ټولونکی کو کنار په نېښو وهی کله چی مقاله ترتیب سی نو د یوې غټی حوصلې څښتن کولای سی چی دا مقاله سر تر پایه وګوری ځکه چی مروج نوم ئې مقاله وی او حجم ئې د کتاب ښاغلی حبیبی پرته له دې وائی: په موسیقی هم پوهېږم، سره د هغه چی عمر ئې د پنځوس کالو په شاؤ خوا کی دی دعوه کوی چی د ښه آواز څښتن هم یم خو چا ئې تر اوسه غزل نه ده اورېدلې ظریف او ساتیری سړی دی، د ملګرو وړ ورسره وزی مګر په عین حال کی ډېر عصبی دی، یو خوږ مجلس شروع کی لېکن نا ببره ئې د خبرو د حرارت درجه لوړه سی او داسی شخړه ځنی جوړه سی لکه په او خوشکی کی چی یو چا په پټه د بل چا او به پر خپله مځکه تړلی وی بیا هم بیرته د مجلس رنګ په یوه تر خه خندا واړوی پدې کی شك نسته چی مولانا حبیبی د قام په درد درمند دی خو چی د دې قام یو غړی پلاس ورسی تر وړیو ئې لا سپك کړی.

نور نو ښاغلی محمد شریف حبیبی د مرحوم زین العابدین زوی دی ښونځی ئې ویلی او په خصوصی توګه ئې هم ډېر تحصیل کړی دی د جراحۍ او طب کورس او دار المعلمین ئې هم ویلی دی ۱۲ کاله ئې معلمی کړېده د کندهار ادبی انجمن چی د پښتو د نهضت لوی علم بردار وو مولانا ئې څو عمر په غړیتوب

کې هم تېر کړی دی، دا د ژوند او کار ؤ بار په فهرست کې ئې څه آزاد شغلونه هم سته خو د [۱۰-۱۱] کالو راهیسې وچ کلك بېکاره او پرېشانه ګرزی، بدې ترڅ کې د خلکو د بېقدرۍ څخه ډېر ناراضه دی، د ښاغلی حبیبي خومورنۍ ژبه پښتوده په عربي، اردو، انګلیسي او پارسي هم پوهېږي، نوموړی د څه مستقل اثار و څښتن هم دی چې طبع سوی نه دی او نومونه ئې دادی:-

۱- خواص او عوام.

۲- اوسني سرمایه داران.

۳- اجتماعي زغ.

٤- آس نامه.

کله چې مو وغوښتل چې د مولانا د کلام بوه داسې نمونه چې څه قدر ئې لنډه راګرزولې وې ومومو آخر مو د هلمند په جریده کې دا مقاله چې [ د لیکنې اسلوب ] ئې عنوان دی وموندل او لاندې در وړاندې کېږي.

# د لیکنې اسلوب

تو له ژوند د بوه اسلوب د مخه څه ښه او مطلوب بلل کېږي په دې چې اسلوب پخپله د طرز او بوه قانون شکل افاده کوي او ښیي، نو هر شي او کار چې د طرز او قانون د بلوه وي هغه طبیعي منل کېږي او ښه اغېزه لري.

په تېره «لیکنه» باید طبیعي طرزي او قانوني وي دا ځکه چې لیکنه یو داسې کار او یو داسې نښه ده چې د روزګار پر پاڼه یادګار پاتېږي او بیا نه پا کېږي.

لیکنه هر څوك منې چې خالي له دوو شرطو څخه طبیعي باید نه وي. کله لیکنه تقریري وي کله تنقیدي د نړۍ عالم هم دغه ترتیب تل څرګندوي.

که په رښتیا چا دا ومنله چې عالم هر څو نه چې ښه لري بد هم لري، او دا ښه او دا بد هم یو داسې متضاد دی چې پخپله د عالم طبیعي قانون هم دغه متضاد منلی او ویلی دی. که چیري څوك جدي شي او وغواړي چې دا متضاد و نه منې، او یوه پلو ته چې یوازې «ښه» و بلل شي قائل شي او «بد» نه کې قبول داسې څوك ته څه ویل کېږي آیا دی موفق دی که یه؟

علم داسې څوك چې یوازې ښه منې او بد نه منې، عاقل ورته وائي.

ځکه د عقل تل دا خو ښه ده چې هر شي باید ښه او موزون وي بد او نامعقول نه وي نو لکه عقل چې تل ستړي او ستومانه دی چې د عالم بد باید ټوله ښه وګرزوي تر اوسه به چا داسې نه وي او رېدلي یا لیدلي چې دا دی عقل موفق شو بد ټوله ښه شوه؟

د عقل څښتن چې عاقل نومېږي ښه ورته وګوري چې تر عقل لا

خوار کی یو په سله ستړی او ستومانه دی .

هر کله چی موږ دا ومنله چی عالم نه پرمخ موزون دی نه ناموزون او عقل یا عاقل هم دا ومنله چی هر موزون ناموزون نه شو او هر ناموزون موزون نه شو . که سر بېره پردې عقل یا عقل وغواړی چی د عالم دغه طبیعی او باقی نظام او ترکیب یو د بله سره واړوی، یا ټوله ښه وګرزوی یا ګرده بد ثابت کړی نو آیا دې عقل ته، عقل باید وویل شی ؟ او دا عاقل رښتیا عاقل باید وبلل شی؟

که د ښو او بدو پدې تحول کی د عقل او عاقل خدمت یوازی اتحاد وی چی ټوله بد ښه کړی یا ټوله ښه بد . نو ګمان نه کوو بلکه رد وایو چی د عالم ښه کله بد شو یدی؟ او بد ئې کله ښه. د عقل او د عاقل خدمت هر څوك دغه قدر بولی، چی عقل ښه ښه بولی او بد بد .

لیکن د دې ترکیب نه ؤ دې متضاد ته تغیر نه شی ورکولای چی بیا نو ښه وی بد نه وی یا بد وی ښه نه وی .

دلته وموږ ته جوته شوه چی د هر ناقد که وغواړی چی خپل تنقید ته خپل جامه ورواغوندی او په نورو لفافو کی ئې ونه پیچی نو خیال کوم چی د تنقید اسلوب هم پخپله ادا کېږی او بتیږی چی څو نه وړ او معقول دی ؟

تنقید پخپله یو داسی کار دی چی ښائی وغواړی ښه بد کړی او بد ښه . که چیری د ناقد نظریه داسی وی لکه چی ومو ویله نو دا نظریه به نه وی ولی په دې حقیقی عقل دا نشی منلای چی د عالم طبیعی نظام دی له خپله حاله دونه واوړی چی یوازی ښه وی بد نه وی یا بد وی ښه نه وی او که حقیقی عقل هم د دې دوو همسایګانو انفکاك ناممکن بللی وی نو بیا کله عاقل دونه ځان ستړی کوی چی دا ناممکن دی بیرته ممکن وګرزوی .

له دې پلوه هر ناقد یوازی موظف دی چی د نړۍ بد او ښه داسی وښئی چی و نورو ته هم یوازی دغه ښه پلو او بد پلو معلوم شی نه د ښو او بدو خاوندان پدې چی ښه او بد او د دوی عدم انفکاك ! او بیا د دې طبیعی والی د جهانی نظام له قراره کله باید کم تحول او تغیر قبول کړی .

اوس نو د هری لیکنی څښتن که چیری د ناقد حکم ولری نو ښائی د خپل تنقید اړخونه له پورته ښوونی څخه ښه سره وسنجوی بیا نو تنقید ته ادامه ورکی .

تنقید که د عقل فکر او سنجش له مخه وشی نو ویلای سو چی عقل ټوله عالم یوازی موزون غواړی ، مګر داسی کله کېدا سی .

او تنقید که یوازی احساسی وی هغه ممکن د بدو او نا معقولو نقادی او څرګندونه وکړی او نور راضی نه شی چی په سر سره د بدو څښتن او یا هغه نامعقول دونه لڅ کړی چی په پای کی نامعقول خپله نامعقولی ونه منی او یو د بدو څښتن و خپلو بدو ته قائل نه شی په دغه وخت کی د هر ناقد تنقید تل د ښې نتیجې ناقد بلکه تل ئې بده نتیجه ورکړې ده . که چیری ناقد ته کوم غیر طبیعی حرارت او جذبه نه وی پېښه نو ضرور خپل تنقید ته داسی اسلوب وربخښی چی هم لعل بدست آید و هم یار نه رنجد .

دلته په دې لیکنه کی زموږ غرض دا دی چی د ټولو لیکوالو

ښاغلی غلام محي الدین [ایوبی]

# څنګه ژوند؟

بو دادی چی انسان خپل ځان آرام، نس مدد، تن بت ارام ځه د شخص دپاره وکړی. بل دادی چی بو فرد سربېره پردغه دا منظر هم ولری چی نورونه خدمت وکړی اود ټولنی د خیر، آرامی او خوشالی وسائل راغونډ او فردی ژوند د ټولنی او اجتماع تر ژوند قربان کړی، په بل عبارت داچی بو انسان ددې دپاره خپل ضروری احتیاجات برابروی چی فقط په هغه سره دده ژوند ساتلی وی او بیادی خپل ژوند د ټولنی دپاره وقف کړی.

او دې دواړو نه ژوند ویلای شو لیکن آیا ددې بوه اودها بل ژوند په منځ کی کوم فرق اشته او آیا دواړو نه یه بوه نظر وګورو؟ که څوک ددې دوو په منځ کی امتیاز او تفریق نشی راوستلای نو حقیقتاً هغه نه دپر کوتاه فکره انسان ویلای شو درست دی چی داهم ژوند دی چی انسان ئې د خپل نس اونفس دپاره وکړی خو که د چا خیال بو اوچی بر خپل ځان باندی طواف کړی او د فکر دائره ئې دو نه محدوده وی چی تر ځان پورته بل هیڅ شی لیدلای نشی نو دې ژوند ته یه اومنی عصر کی چندانی یه ښه نظر نه ګوری او بلکه نردې بل منفوره ژوند نشته، داچی ولی اجتماعی ژوند تر فردی ژوند دپر اهم شمېرل کېږی څرفلسفې لری چی بو کوچنی حقیقت ئې دادی: بو فرد اشی کولای چی یه بو اوچی سر خپل ژوند ته ادامه ورکی او با خپل ټول ضروریات او ارتیاوی

ټوله لیکنی البته یا تنقیدی دی یا تنقیدی نو که څوک د لیکنی اسلوب بخوالا وبېژنی لیکنه خپل موقعیت نه بایلی او تنقید یا تقدیر هم دو نه بې هدفه نه پاتیږی چی هر څوک ئې ولولی او بې اختیاره داسی ووائی:

هر سخن جائی و هر نکته مکانی دارد که شه هم تقدیر یا تنقید د شو، بدو بو دول څرګندونه ده خو څوک نه وائی چی داسی نه ده بلکه دو نه تصریحات هم په کار نه دی چی د هر ناقد د مرام بر خلاف د لیکنی اسلوب دو نه چپ ثابت شی چی بو بله مدعا لحنی استفهام شی.

«خوانی که عشق ریزد هرگز هدر نباشد»

برابری کړی نو ددې دپاره چې د فرد ژوند سانلی وی ورته پکار ده چې د ټولنې په حال کې ژوند غوره کې، کوم وخت چې د انسان فکر د فردی ځنځیر څخه و اجتماعی حلقې ته راپورته شو، دلته فرد خپل لومړنی حال بدلوی او دبلی خوا د ده احتیاجات هم دپخوا څخه لږ څه تغیر کوی نو بدغه وخت کی افراد دخپلو اړتیاؤ دپوره کولو په عزم کی راوزی داخوښکاره ده چې دانسانانو اړتیاوی ډیری دی داهم مسلمه ده چې یو انسان نشی کولای چې په یواځی سر ټوله احتیاجات رفع کړی نو دلته اجتماعی تعاون لازم شو دهمدې حساس ټکی په نسبت هغه فرد چې یواځی خپله خېټه مړوی او نش خپل فردی ژوند ښه کول غواړی په حقیقت کی د ټولو افرادو په سعادت، آرامی او خوشالی کی لغتی وهی چې دا کار په حقیقت کی لوی خیانت دی.

دبلی خوا کوم وخت چې افراد دټولنې په حال کی سره راغونډ شول ددوی په منځ کی ځینی قرارداد ونه موجود دی چې باید دهغه په وجه یو د بل پر حق اضافه د بل چا و مال او ناموس ته لاس ونه غزوی بلکه باالعکس باید د یوې ټولنی افراد یو د بل لاس ونیسی کومك سره وکی ددې دپاره چې هم ئې فردی او هم ئې اجتماعی ژوند سانلی وی لازمه ده چې تر شخصی منظور تېر شی او اجتماعی هدف ټینګ کړی.

نو ددې پورته خبرو څخه دا څرګنده شوه چې شخصی ژوند هیڅ ارزش او قیمت نلری بلکه ژوند باید ددې دپاره وی چې د ټولنی خیر، سعادت، آرامی خوشالی او پېشرفت په هغه سره حاصل شی.

له اردو څخه:

د ښاغلی سرېڼ ژباړه

# د کندهار د روزګان

## د شالی درې کتیبه

روزګان چې وشمالی ګوښې ته د کندهار واقع دی د جنوبی غور او زابلستان له منځنیو تاریخی سیمو څخه ګڼل کېږی نژدې و ظهور ته د اسلام یا تر اسلام دمخه د «ابدل خان سپید» یا «هیتالیت هون سپید» مرکزؤ او ددغی کورنی اخیر نیو پاچهانو دلته حکومت کاوه چې د څووا کمنو نومونه ئې د پښتو عناصر لری مثلاً لکه د مهر کولا، له کلمې څخه ئې چې په پښتو کی د میر کهول (دلمرد کورنی) مفهوم اخیستنه کېږی او یا د تورمان کلمه چې کټ مټ د تورمن (توری-وهونکی) معنی لری.

دا نه ده معلومه چې د نوموړی کهول ژبه به څه ډول وه اما د نومونو له سیاق څخه ئې دا معلومیږی چې پښتو به وه او یا و پښتو ته به نژدې کومه ژبه وه.

ددې وګړو چې دلته ئې نوم یاد سو ډېر لږ آثار باقی پاته دی چې دغه د روزګان کشف سوی کتیبه ئې له یادګارو څخه ګڼل کېږی او لیکنه ئې تر اوسه پوری پر یوه لویه ډبره باندی د نوموړی ځای په پنځه

میلی کی د شال د دري د اڅکزو د کلا په مخ کی موجوده ده څو کرښی ئې په یونانی خط او څو ئې په عربی حروفو لیکل شوی دی د دغو کلمو لیکنه به غالباً په شپږم یا اوم هجری قرن پوری مربوطه وی.

ځکه چی دا کتیبه له مهمو تاریخی اثرو څخه ده نو هغه مقاله چی په انګلیسی ژبه سره ددې په باره کی لیکل شوې ده د ویونکو د استفادې له پاره ترجمه کوم.

ښاغلی «ای، ډی ایچ، بیور» د اکسفورډ د پوهنتون د تاریخ پروفیسور ددې کتیبې په باره کی چی پخپلو سترګو ئې لیدلی او د پېښور د کتیبو له لیکنو سره ئې مقایسه کړېده داسی لیکی:-

د هون ابیض د زمانې دوې کتیبی چی یو له بله سره مشابه او ما لیکونکی په روزګان نومی ځای کی چی د کندهار په دوه سوه میلی کی و شمالی مغربی ګوښې ته واقع دی ملاحظه او په ډېر دقت سره می ترخپل نظر تیری کړی همدغه شانته می د پېښور د موزیم د درو مبهمو کتیبو په باره کی هم ډېر توقعات غونډ کړه.

د روزګان د دوو کتیبو ډېره صافه برخه په یونانی شکسته لیک سره ده چی د نوموړی نژاد په عصر کی مستعمل ؤ او بیا په مسیحی زمانه کی د «هپتولایت-کرسیو» په نامه سره معروف شو په یقینی ډول سره نشم ویلای چی دا کتیبی په کومه ژبه سره دی که څه هم تعبیر او تفسیر به ئې څه اشکالات لری اما له ښه مرغه به ئې صافه حکاکی ویل او ترجمه کول اسانه کړی د حروفو علامات ئې دا ډول دی.

مهروز کی MIHROZKI
زالو ZAOLOO
شاهو SHAHO
باګوسری BOGO'SCRI

هغه پاچا چی نوم ئې دلته اخیسته شوی دی ښائی چی هغه معروف شخصیت به وی چی په پنځم میلادی قرن کی د هون سپید حکمران ؤ دا زه له ګومانه وایم ولی چی صحیح صورت او اصلی نوم ئې په یقینی ډول نه دی معلوم.

د پېښور درې کتیبې چی دوې ئې په دوو ژبو سره لیکل شوی او ډېری پخوا میندل شوی دی د لرغونو آثارو پوهانو ئې په توضیح کی له ډېرو زحمتو سره مخامخ شوه څو مطلوبی نتیجې ئې ځنی اخذ کړی یوه له دې کتیبو څخه چی د پېښور د موزې ۱۵ لمبر لری یوه مستقیم خط ئې یو پر دریمه برخه له چپې ګوښې څخه پر دوو برخو وېشلې ده دا کتیبه چی د خزانې د مقام له «آی دک-سپین وام» نومی جادې څخه څلور میله لیری د میرعلی نومی ځای په توچی ایجنسی کی میندل شوې وه د کپتان ای، ایچ، بارنس له طرفه څخه و نوموړی موزیم ته اهدا شوه.

د مخه می وویل: چی د دې کتیبې اوږدوالی د یوه عمودی خط په ذریعه سره پر دوو برخو وېشل شوی دی د راسته پلو د حروفو حکاکی ئې چی څلور کرښی ده ډېره خفیفه ده مګر د پاریس د لرغونو آثارو یو پېژندونکی ئې لیکنه له منګولی ژبی څخه ګڼی د کېڼ طرف حروف ئې چی و پنځو کرښو ته رسیږی په سرادا نومی ژبه سره دی چی د مبهم والی او غامض توب له حیثه څخه د مطلب اخیستنه ور څخه ډېره سخته ده خو سره له دې ئې

په بعضي ځایو کې د « برو-
ئین BROAIN » لفظ
خال، خال او په لومړي ژ ځلرمه
کرښه کې ئې د « پیغمبر »
لفظ په مشکوک ډول ویل کېږي
مګر کله چې مو په پاریس کې
وبوه منګولي عالم ته ورولېږله
هغه لومړي لیکه د « نی ناما » په
نامه سره شروع کېږي بله
دې درو لفظو څخه بیا د سامو
لفظ دی چې له ساتنې عصره
سره تعلق لري په دریمه لیکه
کې د « بهوپا » پاچا نوم اخیستل
شوی دی چې مونږ دا نوم په
« نوا ناچندرا » سره تعبیر-
ولای شو .
پنځمه لیکه په « پترا » سره
چې د زړه معنی ښکاره انجام
شوې ده اما وروستي لیکې ئې بېخي
محوه شوې او ویلو قابل
نه دي وچې پاتې نه بعضي ناتمامي
جملې د سرادا په ډول سره په
ناګري لیک سره لیدل کېږي
د راستې طرف بعضي کلمې هم
نه ویل کېږي د منګولي ژبې
پوهان ئې د لیکنې طرز و
ترکي یا منګولي نه ورنه
بولي .

دا مضمون ښاغلي فاضل کهزاد خوکاله پخوا لیکلی
او ښاغلي محي الدین انیس ښتو کړی دی څکه چې د کندهار
په بوه تاریخي اړخ اړه لري او مو د مجلې دپاره وناکې .

# د دمراسي غونډۍ

## د کندهار د جنوب غرب په ۱۶ میلي کې

د دمراسي غونډۍ داسې نوم
دی چې یدې څو نژدو کلو کې
زموږ د وطن د باستان شناسۍ
په مطالعاتو کې یادیږي، لیکن
تر اوسه پورې دهغه موقعیت
مکشوفه آثار او اهمیت د
قبل التاریخ دورو د تهذیب په
مراتبو کې نه دی پېژندل شوی
د دې ځای پېژندګلوی د جغرا-
فیائي موقعیت او د باستان-
شناسۍ د اهمیت په لحاظ داسې
ایجابوي چې باید د افغانستان
د جنوب غرب د ارغنداب،
هلمند او د سیستان د هموند د
مجراؤ تر منځ نظر واچول شي
او د تحقیقاتو نتیجه ئې مختصراً
ولیکل شي .
په اوس وخت کې کوم معلومات
چې د پوهانو پلاس کې دي د
قطعي شواهدو په اساس په اثبات
رسوي چې نژدې شرق مخصوصاً
دنیل، دجلې، او فرات حوزې
دپوه عمومي واحد په حیث د
بشر د رهایش د قدیمترینو
نقاطو څخه وه، دغه رنګه دا
نظریه هم پر علمي شواهدو
متکي ده چې د دې قدیمي حوزې
په منځ کې بشري ژوند لا پوې
خواچې بن او دبلې خوا د اندوس
د حوزې یعنې د سند سره تعلقات
درلودل، د دې تعلق تو د څرنګه
والي مطالعه او مخصوصاً هغه
لارې چې دغه تعلقات پرې صورت
موندلي دي د افغانستان د قبل-
التاریخي تهذیب د مراتبو د
تدقیق لپاره د دقت او ډېر اهمیت
ورده، ولې چې افغانستان
داسې مځکه ده چې د بین-
النهرین، چین او سند د حوزو
تر منځ واقع شوې ده .
تر هغه ځایه چې شواهد
څرګندوي د قبل التاریخ په

دورو کی د دغو ذکر شو و نقطو ترمنځ چی ارتباط صورت موندلی دی د دوو لارو څخه ؤ چی یوې ته شمالی او بلی ته جنوبی لار ویلای شو، پدې ترتیب چی لومړی د ایران د شمال شرق او د روسیې د جنوب شنیلی د چین د غرو او د ښتو سره موښتی او دوهم د ایران د جنوب څخه په مکران او بلوچستان باندی منتهی کېدی، د هغه تحقیقاتو له رویه چی د امریکائی حفریاتو هیئت په افغانی سیستان کی په عمل راوړی دی داسی څرګندیږی چی د شمالی لاری څخه د هری رود په حدودو کی یو ښاخ، د فراه، هرات، هلمند او ارغنداب و لور ته منشعب کېدی او د واترك ارغنداب د حوزې د لاری څخه د سند و حوزې ته منتهی کېدی، په بل عبارت د واترك فراه رود د خاورو په منځ کی چی افغانی سیستان سراسر په بر کی نیسی د یوه جغرافیائی مشخص واحد په حیث د قبل التاریخ په مطالعاتو کی ئې موقع نیولې ده. شك نسته چی پدغه ۳۰ وروستنیو کلو کی د باستان شناسۍ تحقیقات چی پر علمی اصولو باندی متکی دی زموږ په مملکت کی جریان لری د قبل التاریخ په زمینه کی فقط له ۱۵ کالو څخه متوجه شوی یو او پدې ۱۵ کالو کی هم ډېر کارونه د ۵ یا ۶ وروستنیو کلو راهیسی شوی دی، مګر د باستان شناسۍ د هیئتو د فعالیت حوزې (که فرانسوی دی که امریکائی) توله پر افغانی سیستان باندی منحصره دی او د هغه جغرافیائی ساحه ښائی چی د نادعلی، چخانسور، او د کندهار د پنجوائی د ده مراسی غونډۍ ترمنځ محدوده و بولو البته د دې ساحې موقعیت د جغرافیې د حیثه ډېر مهم دی او د سند او امو د حوزو او د ایران د شرقی حصصو د قبل التاریخی تپو ترمنځ د ارتباط عامل کېدلای شی، او ډېر امکان لری چی د دې ځای څخه نوی روڼاوی د سند د حوزې او د شرقی ایران د خاوری پر قبل التاریخ مدنیت باندی ولویږی. لکه چی مسټر «فیرسرویس» د امریکا د باستان شناسۍ د هیئت مدیر د افغانستان او مخصوصاً د افغانی سیستان، ارغنداب او ترك د حوزو په باب پخپله یوه مقاله کی داسی د نظرئیې اظهار کړی دی.

[افغانستان نه یوازی د ارتباطی موقعیت په درلولو سره د قبل التاریخ په تحقیقاتو کی ډېر اهمیت لری، بلکه په داخل کی د خپلی خاوری درلوونکی د داسی منطقو دی چی په هغه کی د مملکت قدیمه مدنیتونو نشوونما پیدا کړی او څرنګه چی د غو مناطقو په قدیمه زمانه کی مهم موقعیت درلود په هغه ځای کی د قبل التاریخی مسائلو تحقیق ډېر دلچسپ دی د افغانستان خاوره د غرنیو علاقو او جلګه ئی نقاطو څخه مرکبه ده، په لوړو مناطقو کی کرهڼه په اوسنیو وسائلو سره لکه چی په کابل او غزنی کی عملی کېږی د قبل التاریخ په دورو کی ممکنه وه.

که د افغانستان له خاوری څخه د غه نقطې یوې خواته پرېږدو، نوری څلور منطقې پاتیږی چی د ډېرو او بو او د حاصل خیزی خاوری په درلولو سره د اولو زمانو د کرهڼی د پاره اماده وه.

دغه څلور نقطې عبارت دی: د آمو دریاب د جنوبي حوزې د شمال څخه، هري رود د پراخې حوزې د غرب څخه، د سیستان د حوزې د جنوب غرب څخه د فراه رود د وادۍ په شمول سره د هلمند او ارغنداب د مشترکې حوزې د جنوب غرب څخه مخصوصاً د کندهار ماحوله خاوره.

دغه څلور نقطې د مساعدې خاورې او اوبو په درلولو سره چې د بشر د اولو وختو د کرهڼې د اساسي شرایطو څخه حسابیږي داسې منطقې دي چې په هغه ځای کې به د باستان شناسي تحقیقات، د ژوند مرتبې او د دې مملکت د قدیمو اوسېدونکو د قبل التاریخ تمدن روښانه کړي].

څرنګه چې پدې نظریه کې پېش ګوئي او تصریح شوېده او حتی پخپله دغه نظریه تر یوه حده پورې پر شواهدو متکي ده چې د مخه له دې نقاطو څخه و لاس ته راغلې ده زموږ د باستان شناسۍ د هیئت فعالیت د قبل التاریخ په زمینه کې تر ټولو ډېر د هلمند او ارغنداب د مشترکې حوزې وخواته دی.

د مراسي غونډۍ چې د دې مقالې عنوان تاکل شوی دی، یوه داسې غونډۍ ده چې د کندهار د ښار د جنوب غرب په ۱۶ میلۍ کې د پنجوائي په مشهور کلي کې واقع ده، په ۱۹۵۰ او ۱۹۵۱ کلو کې چې د امریکائي حفریاتو د هیئت غړي د ارغنداب او هلمند د کښته حوزې په خاورو کې په تحقیقاتو لګیاوه [مسټر دیوپري] یو د دغه هیئت د غړو څخه د دغې غونډۍ په کشفولو سره بریالي شو او د یوې کوچنۍ او محدودې ساحې چې ۶ متره اوږدوالی او ۲ متره ئې بر درلودی د کیندلو کار ئې شروع کړ او تر ۶ متر و ژوروالی وروسته ئې د یوه جر په کیندلو اقدام وکې په نتیجه کې د ځینو کودرو او مخصوصاً د پخو ختو د کوچنۍ مجسمې په پیدا کولو بریالي شو.

دغه کوچنۍ مجسمه د فراوانۍ او حاصل خیزۍ د ربة النوع د هیکل څخه عبارت دی چې تاریخ هغه د ۲ او ۳ زرو، ق م کلو په مابین کې بولي البته د دې ربة النوع په څېر د نژدې شرق په ټولو ساحو کې مجسمې پیدا شوي دي.

لېکن د دې کشفېدو اهمیت د هیکل سازۍ په شکل او د کار په سبک پورې تړلی دی او د سند د ناوې د اوسېدونکو د عمل طرز را په یاد وي، څرنګه چې ټوله خبر دی د ۲۵ کالو راهیسې د سرجان مارشال د اکتشافاتو په اثر د سند په حوزه کې نوی مدنیت د [اندوس د تهذیب] په نامه د ژبو پر سر ورد ګرزېدلی دی، د سند دغه تهذیب په ۳-۴ زرو، ق م کلو کې د بین النهرین او نیل د حوزو د مدنیت سره ارتباط او تعلقات درلودل او دا ارتباط د یوې لارې د افغانستان د جنوب غربي خاوره یعنې د هلمند او ارغنداب د حوزو څخه کېدی.

د دې لامله باستان شناسانو د ارغنداب او سند د حوزو د خاورو مابین ته ډېر اهمیت ورکړی او د بلوچستان په بېلو بېلو ځایو، کوټه او د ژوب په دره کې په تحقیقاتو لګیا شوی دی د کوټې د قبل التاریخ تهذیبي مرتبې ئې په عمومي ډول پر څلورو مرحلو وېشلی دی چې د [سادت تهذیب] ئې وروستي بللی دی.

د مسټر فیرسرویس د نظر ئې

# همایونی معظم اعلیحضرت په کندهار کې

څرنګه چې خبر مو اخیستی دی په دې مسافرت کې د شاهانه ذات سره د دربار ترملتزمینو علاوه ډاکټر عبدالظاهر د ملي شورا رئیس، د کابینې دغړو څخه: ښاغلی عبدالله ملکیار د مالیې وزیر او د هلمند د ناوې د براختیا رئیس، بریدجنرال محمد عظیم د کار د قواؤ قوماندان او د فوائد عامې د وزارت معین، د انمی فرقې د کنډک قوماندان جګرن سردار عبدالولی، د صدارت عظمی د اداري د تفتیش د ریاست د تفتیش د درهم ګروپ د رئیس کفیل ښاغلی سردار سلطان محمود غازی، ښاغلی عبدالهادی داوی، د شاهانه حضور د سرمنشی کفیل نور محمد کهګدای، د شاهانه حضور مطبوعاتی مشاور استاد خلیل الله خلیلی، د شاهانه حضور مصاحب سردار خلیل الله عنایت سراج او د شاهانه حضور سزباور جنرال محمد عمر د شاهانه ذات سره ملګری دی.

د مطبوعاتو د مستقل ریاست د عکاسۍ اوفلم اخیستلو برهیئت بخوا د همایونی ذات د سفر د جریاناتو د عکاسۍ په غرض کندهار ته راغلی وو.

ګران ټولواک د مایښین بزدرو نیمو بجو وتخنیکی ښوونځی ته تشریف یوړ او د کار غرفې د پېلو، پېلو دستګاؤ سره وکتل، اعلیحضرت همایونی په مربوطه صنائعو کې زده کوونکو د انکشاف څخه خوښی ښکاره کړه.

همایونی معظم اعلیحضرت پر ٤ بجې او ١٥ دقیقې د کندهار د مېوې د ساتلو او صادرولو مؤسسې ته تشریف یوړ او د مؤسسې د کارچیانانو ګوت، د مؤسسې رئیس، داخلی او خارجی کار کوونکو په هر ځای کې د کار راپورټ د همایونی ذات حضور ته توضیح کاره.

د مؤسسې ترکتلو وروسته هغو کسانو چې بدې دستګاه کې برخه اوسهم درلود د شاهانه ذات د لارښوونو او د دې مؤسسې په انکشاف او هغو ګټو کې چې له دې لارې څخه د کندهار باغ اروونکو ته رسیږی د دولت د توجه څخه د همایونی ذات حضور ته د تشکر اظهار وکړ، همایونی معظم اعلیحضرت

---

په قرار د ګلی لوښو او نقشو د اشکالو او دهیکلو د جوړښت د نقطه نظره د سادت د تهذیب کویټې او د کندهار د د دمراسی غونډۍ د تهذیب ترمنځ مخصوص ورته والی (شباهت) موجود دی.

او بهله شکه دغه وه مدنیتونه هم عصره دی، دغه رنګه د کندهار د [د دمراسی تهذیب] د زوب د درې او حتی یوڅه د جنوب وخوانه د لوراليددرې د تهذیب سره چې د اندوس پر غاړه واقع دی ورته والی لري.

ددې نتائجو د رویه که څه هم د پر محدودې ویلای شو د چې د ق م ۲-۳ زرو کلو په مابین کې د ارغنداب او سند د حوزو ترمنځ کدم مدنیت غوړېدلی ؤ.

د مؤسسې د کار د پرمختګ او په دې ګټور کار کې د خلکو د برخې اخیستلو څخه خوښې وکړه او د ډېرو کوښښو توصیه ئې وفرمایل .

د ملوکانه ذات فرمایشاتو د دوی د امادګۍ په ښکاره کولو او تشکر ویلو سره خاتمه وموندل .

ګران ټولواک وروسته تر دې د فیل کوه د برېښنا دستګاته چې پدې وروستیو ورځو کې ئې کار بشپړ سوی دی تشریف یووړ، ښاغلی فرهاد د برېښنا د لوی شرکت رئیس د دې دستګاه په شاوخوا کې د همایونی حضورته لازم توضیحات وړاندې کول شاهانه ذات پر ۵ بجې او ۴۵ دقیقې د الکتریکی غوټۍ په کښېکښلو سره د لومړی وار د پاره فابریکه پرانیستلی او د دې دستګاه په کار اچول ئې د کندهار د ښار د روښانه کولو او د ګړو د آرامۍ او راحت د پاره پوبل ګام وبلیء او د موظفو کارکونکو څخه ئې خوښې وکړه .

همایونی ذات په دا ماښام وهغې مېلمستیا ته تشریف راوړ چې د کندهار د عسکری قوماندانۍ له خوا د دوی د تشریف راوړلو په درناوی د فرقې په قرارګاه کې سوی وه پدې مېلمستیا کې د کندهار د ښار او شاؤخوا ستر وکسانو او مشرانو د شاهانه ذات د اردو افسرانو، ملکی مامورینو او د مؤسسو رئیسانو د خپلو مېرمنو سره ګډون کړی ؤ .

د حمل په ۳۱ نېټه ګران ټولواک د سهار له ۹ بجو څخه د ماپښین تر یوې بجې پورې د ظاهرشاهی کانال د جنوبی ترنګ د ښاخ کارونه او د دغه کانال د کانګرټی ودانی، د هوائی ډګر ودانۍ د کندهار او کابل د عمومی لین د شروع کېدو د کار جریان او دلاری د جوړولو دستګاه وکتله چې د کارو د پرمختګ څخه ئې موظفو مامورینو او خارجی مهندسینو ته خوشالی ښکاره کړه . معظم اعلیحضرت تر یوې بجې وروسته د ارغنداو بند ته تشریف یووړ او د غرمې ډوډۍ ئې هلته وخوړله د ګرشک د اعلی حکومت کفیل او د هلمند د ناوې د ریاست معاون ډاکتر عبدالقیوم د بند د مامورینو سره د ګران ټولواک په حضور مشرف سول شاهانه ذات پر ۷ بجو او ۱۵ دقیقو بیرته خپلی قرارګاه ته تشریف راوړ، په دغه ماښام د ښار او شاؤخوا ځایو مخور، عسکری صاحبمنصبان، د دائرو او مؤسسو رئیسان د شاهانه ذات په حضور مشرف او پر سلطنتی مېز ئې ډوډۍ وخوړله .

د ثور په لومړۍ نېټه پر ۱۰ بجې چې معظم ټولواک د خرقی مبارکی زیارت وکړ بیا د لوی احمدشاه بابا او ملی زعیم میرویس خان و آرامګاه ته ورغی او فاتحه ئې وکړه ورپسې ئې د مملکت د نورو سیمو د کتلو په نیت له کندهار څخه لښکرګاه ته تشریف یووړ .

# KANDAHAR

MONTHLY MAGAZINE

OFFICE:-

PRESS DEPARTMENT

KANDAHAR , AFGHANISTAN

EDITOR A.M 'KARZI'

(MAY) 1962

GOVERNMENTAL PRESS